# ذکرانِ نبی ﷺ خوابوہ سنتونہ

شیخ العرب والعجم عارف باللہ حضرتِ اقدس

مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم



PDFBOOKSFREE.PK



خانقاہِ امدادیہ اشرفیہ

بسم اللہ الرحمن الرحیم

# ایک ضروری گزارش!

معزز قارئینِ کرام! اس کتاب کو عام قاری کے مطالعہ، اُمتِ مسلمہ کی راہنمائی اور ثوابِ دارین کے خاطر پاکستان ورچوئل لائبریری پر شائع کر رہا ہوں۔ اگر آپ کو میری یہ کاوش پسند آئی ہے یا آپ کو اس کتاب کے مطالعے سے کوئی راہنمائی ملی ہے تو برائے مہربانی میرے اور میرے والدین کی بخشش کے لئے اللہ رب العزت سے دُعا ضرور کیجئے گا۔ شکریہ

طالبِ دُعا سعید خان

PAKISTAN VIRTAUL LIBRARY
www.pdfbooksfree.pk

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# دکران نبی ﷺ خوارہ سنتونہ

شیخ العرب والعجم عارف باللہ حضرتِ اقدس
مولانا شاہ حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتہم

خانقاہ امدادیہ اشرفیہ
گلشن اقبال بلاک نمبر ۲ کراچی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# فهرست


| نمبر شمار | موضوعات | مخه نمبر |
|---|---|---|
| ۱ | باسمه سبحانه وتعالی | ۲ |
| ۲ | دخوب څخه دراپورته کیدو سنتونه | ۳ |
| ۳ | بیتُ الخَلاء ته دتلو راتلو دعاوی او سنتونه | ۴ |
| ۴ | دکور څخه دوتلو دعاء | ۷ |
| ۵ | کور ته دداخلیدو دعاء | ۸ |
| ۶ | مسجد ته د داخلیدو سنتونه | ۸ |
| ۷ | د مسجد څخه د راوتلو سنتونه | ۹ |
| ۸ | د مسواك سنتونه | ۹ |
| ۹ | د اوداسه سنتونه | ۱۰ |
| ۱۰ | د اوداسه فرائض | ۱۳ |
| ۱۱ | دغسل کولوسنت طریقه | ۱۳ |
| ۱۲ | دغسل فرائض | ۱۵ |
| ۱۳ | د اذان او اقامت سنتونه | ۱۵ |
| ۱۴ | د لمانځه یوپنځوس سنتونه د ولاړې یوولس سنتونه | ۱۷ |
| ۱۵ | دقرأت اووه سنتونه | ۱۹ |
| ۱۶ | د رکوع اته سنتونه | ۲۰ |
| ۱۷ | دسجدې دوولس سنتونه | ۲۰ |
| ۱۸ | دناستی دیارلس سنتونه | ۲۲ |
| ۱۹ | دلمانځه فرائض | ۲۳ |
| ۲۰ | دښځو په لمانځه کې خاص فرق | ۲۴ |

| نمبر شمار | موضوعات | مخه نمبر |
|---|---|---|
| ۲۱ | دلمانځه هغه ادب چې دټولو دپاره برابر دی | ۲۵ |
| ۲۲ | دجمعې سنتونه | ۲۶ |
| ۲۳ | د ډوډۍ یوځو سنتونه | ۲۷ |
| ۲۴ | د اوبو څښلو سنتونه | ۳۰ |
| ۲۵ | دلباس سنتونه | ۳۲ |
| ۲۶ | د وریښتانو سنتونه | ۳۳ |
| ۲۷ | ناجوړې علاج اودعیادت سنتونه | ۳۵ |
| ۲۸ | دسفر سنتونه | ۳۷ |
| ۲۹ | دنکاح سنتونه | ۴۱ |
| ۳۰ | ولیمه | ۴۲ |
| ۳۱ | دکوچنی پیدا کیدو دوخت سنتونه | ۴۳ |
| ۳۲ | دمړک او دهغه وروسته سنتونه | ۴۵ |
| ۳۳ | دبیدیدو سنتونه | ۴۷ |
| ۳۴ | دمعاشرت ځوسنتونه | ۵۰ |
| ۳۵ | دوسوسو پروخت سنتونه | ۵۲ |
| ۳۶ | سنت فکر | ۵۲ |
| ۳۷ | یوځوموهم دینی تعلیمات | ۵۳ |
| ۳۸ | د استخارې لمونځ | ۵۴ |
| ۳۹ | د استخارې دعا | ۵۵ |
| ۴۰ | دحاجت لمونځ | ۵۶ |
| ۴۱ | ځینی عادتونه او خصائل دنبوی ﷺ او مُتفرق سنتونه | ۵۹ |

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## باسمه سبحانه وتعالٰی

دشیخ العرب والعجم ولئ کامل حضرت مولانا شاه حکیم محمد اخترصاحب دامت برکاتهم شخصیت دتعارف محتاج نه دی. دحضرت والا په مختلفو ژبو کی مواعظ حسنه دخاص قبولیت عنداللّٰه علامت دی .دحضرت والا په زړه کښی دغه درد دی چی داللّٰه بندګان او دحضورﷺ اُمتیان خپل حقیقی خالق او مالك وپیژنی او هغه ځینی خوشحاله سی. که چاپه فرائضو، واجباتو، سنت مؤکده ؤو عمل وکړل او ګناهونه ئې پریښودل نو هغه خپل رب خوشحاله کړل او خپل رب ته ورنزدیشول. دفرائضو تکمیل په واجباتو اود واجباتو تکمیل په سنت مؤکده ؤو او دسنت مؤکده ؤو تکمیل په سنت غیر مؤکده(نوافل) سره کیږی. زیر نظر رساله دحضرت والا دسنتو کتاب" پیارے نبی ﷺ کی پیاری سنتیں" پښتو ترجمه ده. حضرت والا په دې رساله کښی دقرب الی اللّٰه اوّله زینه بیان کړی ده او په دې سره دعمل کولو باندی به اللّٰه تعالٰی دنورو مراحلو دتکمیل توفیق هم راکړی. دغه رساله ما وکتله د اصل کتاب سره سمون لری په دې کښی انشآء اللّٰه څه غلطی نشته.اللّٰه دی مترجمینو ته اجرعظیم ورکړی.

سیفُ الرحمٰن

امام مسجدِ اشرف خانقاه امدادیه اشرفیه ګلشن اقبال کراچی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# دخوب څخه دراپورته کیدو سنتونه

(۱) دخوب څخه د راپورته کیدو سره سم په دواړو لاسو مخ اوسترګی موږل چی دخوب نشه ولاړه سی. (شمائِل ص۱۸)

(۲) سهار چی کله سترګی رونپی سی نو دا دعا ووایه

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَحْیَانَا بَعْدَمَآ اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ ٥

(بُخاری ص۹۳٦، مسلم ج۲ص۳٤۸، ابوداؤدص۳۳٥ج۲)

**ترجمه:** ټول صیفتونه دالله تعالی دپاره دی چاچی موږ د وژولو وروسته راژوندی کړو او هم دهغه وطرف ته تلل دی.

(۳) کله چی دخوب څخه راپورته سي نو مسواك ووهه.

(مسند احمدص٤۷٥ ج٥، ابوداؤد ص۸ج۱)

په اوداسه کی دی دوهم وار مسواك ووهل سی. دخوب څخه د راپورته کیدو وروسته مسواك وهل جلا سنت دی.

(بذل المجهود شرح ابوداؤد جلد۱صفحه۳٥)

(۴) پای جامه یا پرتوګ چی کله اغوندي نو اول په راسته پښه بیا په چپه پښه، کُرته یا قمیص چی اغوندي نو اول راسته لستونی واغونده بیا چپه، همدارنګه صدری یا واسکټ.

داغسی چی څپلکی په پښوکه ئي نو اول ئي په راسته پښه پښوکه اوکله چي کاږي نو اول دچپه خوا دا وکاږه بیا دراسته خوا دا وکاږه او دبدن اغوستی هرشی دکښلوهم دغه سنت

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



طریقه ده.

(بذل المجهود ج ۱،ص۱۴۲،۱۴۳ ، بُخاری ص۸۷ ج۲، ترمذی ص۳۰ ج۱)

۵ په لوښی کی دلاس وهلو ترمخه دري واره لاسونه ښه پریوله.

(ترمذی ج۱ ص۱۳)

## بیتُ الخَلاء ته دتلو راتلو دعاوی او سنتونه

۱ د استنجاء دپاره اوبه او لوتی دواړه یوسه،که دري لوتی یا ډیری وی نو مستحب دی، که ترمخه په بیتُ الخَلاء (تشناب) کی انتظام سوی وی نو کافی دی، په فلش کموډو کی دلوټو په خاطر تکلیف جوړیږی. لهٰذا ځینو علماء کرامو دتشناب کاغذ دکارولو مشوره ورکړیده چی کموډ خراب نسی.

(مسلم ص۱۶۳ ج۱، ترمذی ص۷ ج۱، ابنِ ماجه ص۲۶)

۲ رسول صلی اللّٰه علیه وسلم به سر پټ او ځپلکی په پښو سره بیتُ الخلاء ته تشریف وړل.

(علیکم بسُنتی ص۱۱ ج۱، کنزالعمال ص ۲۰ ج۷)

۳ بیتُ الخلاء ته د ننوتلو ترمخه دا دعا ووایه

بِسْمِ اللّٰهِ. اَللّٰهُمَّ اِنِّیْٓ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَآئِثِ ٥

(بخاری ص۲۶ ج۱، مسلم، ترمذی، ابنِ ماجه)

**ترجمه:** اې اللّٰه ! زه ستا پناه غواړم دخبیث پیریانو څخه نر وی که ښځه.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ف: ملّا علی قاری رحمة اللّٰه علیه په مرقاة کی لیکلی دی چی په احادیثو کی راغلی دی چی ددې دعا په برکت سره دبیتُ الخلاء دخبیثو شیطانانو او بنده ترمینځ پرده جوړه سی ددې په وجه هغه شرمګاه نسی لیدلای، دائې هم لیکلی دی چی دخبیث پر (ب) باندی پیښ او جزم دواړه روا دی. (مرقاة ج۱ ص۳٦۱)

۴ بیتُ الخلاء ته دننوتلو په وخت اول چپه قدم داخل کړه.

(علیکم بسُنتی بحواله ابنِ ماجه، علیکم بسُنتی ص۱۱)

۵ کله چی بدن لڅوې نو په آسانی سره چی څونه په کښته کیناستو سره ئې لڅولای سی هغونه ښه دی.

(ترمذی ص۱۰ ج۱، ابوداؤد ص٦ ج۱، مشکوٰة ص٤۲ ج۱، والدارمی ص۱۷۸ ج ۱)

٦ دبیتُ الخلاء (تشناب) څخه د راوتلو په وخت راسته پښه دباندی راوباسه او چی دباندی راووزې دا دعاء ووایه

غُفْرَانَکَ. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَذْهَبَ عَنِّی الْاَذٰی وَعَافَانِیْ ٥

(ابنِ ماجه)

ترجمه: اې اللّٰه! زه ستا څخه دمغفرت سوال کوم، ټول صیفتونه هم داللّٰه دپاره دی چاچی زما څخه تکلیف رسونکی شی لیری کړل اوما ته ئې عافیت راکړل.

(ابنِ ماجه ص۲٦)

۷ بیتُ الخلاء ته د ورتګ دمخه که پر انګوشتری(ګوتمی) یایوشی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



باندی دقرآن شریف آیت یا درسول اللهﷺ مبارك نوم لیکلی وی اوهغه معلومیږی نو هغه وکاږه دباندی ټې پریږده. (نسائی) دفراغت څخه وروسته دباندی راسه بیائې واغونده. کوم تعویذ چی په موم جامه کی نیول سوی وی یا په ټوکره کی ګنډل سوی وی د هغه په اغستلو سره ورتلل جائز دی.

(نسائی ص۲۸۹ ج۲، ابوداؤدص٤ ج۱، ابنِ ماجه ص۲٦، مشکوٰةص٤۲ ج ۱)

(۸) دقضاء حاجت په وخت کی مه مخ دقبلې وخواته کوه اومه وهغې خواته شا ګرځوه.

(مشکوٰةص٤۲ ج۱،ترمذی ص۸ ج۱،ابنِ ماجه ص۲۷،بخاری ص۲٦ ج ۱)

(۹) دقضاء حاجت په وخت کی بیله ډیر ضرورته خبری مه کوه همدا رنګه دالله تعالیٰ ذکر هم مه کوه.

(ابوداؤدص۳ ج۱،مشکوٰةص٤۳ ج ۱)

(۱۰) دکوچنیو او غټو بولو دځاځکو څخه ځان ډیر وساته ځکه چی اکثره دقبر عذاب دبولو دځاځکو څخه ځان دنه ساتلو په خاطر وی.

(بُخاری، ابنِ ماجه ص۲۹)

(۱۱) دبولو کولو پر وخت یا د استنجاء وهلو پر وخت مخصوص اندام ته راسته لاس مه وروړه بلکه چپه لاس وروړه، استنجاء په چپه لاس وهه. (بُخاری ص۲۷ ج ۱، ابوداؤدج۱ ص٥)

(۱۲) په ځینی ځایو کی بیتُ الخلاء نه وی هغه وخت د داسی اړخ په

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ځای کی باید قضاء حاجت وسی چیری چی دبل سړی نظر پرده ونه موښلی. (ابنِ ماجه ص۲۸، ابوداؤدص٦ ج۱)

۱۳ دبولو کولو دپاره پوست ځای پیدا که چی ځاځکی درونه غورځی او مځکه ئې جذب کړی. (ترمذی ص۱۲ ج۱، ابوداؤدج۱ص۲)

۱۴ په ناستی بولی وکه ، په ولاړه بولی مه کوه.

(ترمذی ج۱ص۹)

۱۵ دبولوکولو وروسته که اودس وچوې نو ددیوال وغیره په بغل کی باید وچ سی. (شامی ص۳۳۷ج۱)

۱۶ اودس دسنت په مطابق په کور کی باید وسی.

(مرقات ص٤٠٤ ج۲)

۱۷ سنت لمونځ په کورکی کول ،که موقع نه وی نوپه مسجد کی کول. (مرقات ص۳۹۰ج۲)

ف: نن سبا چی سنتونه پریښول کیږی، دسنت لمونځ په مسجد کی کول افضل دی. (کمالاتِ اشرفیه ص١٥٦)

## دکور څخه دوتلو دعاء

۱ دکورځخه مسجد یا یوځای ته دتلو دپاره چی‌دباندی راووزې دا دعاء ووایه

بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ٥

(ابوداؤد ص۳۳۹ ج۲، ابنِ ماجه ص۲۷۷، ترمذی ص۱۸۱ ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



**ترجمه:** زه دالله دنامه سره راووتم ، ماپرالله توکل وکی، دګناؤ څخه ساتنه او دنیکی کولو طاقت دالله دطرفه څخه دی.

(۲) په اطمنان سره ورتلل په ځغاسته نه ورتلل. (دا صرف دمسجد دپاره دی). (ابنِ ماجه ص٥٦، ترمذی ص٧٥)

## کور ته ددا خلیدو دعاء

(۱) او دمسجد څخه یا دهرځای څخه چی کورته داخل سې دا دعاء ووایه او بیا وکور والاؤ ته سلام وکه.

**اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَسۡئَلُکَ خَیۡرَ الۡمَوۡلَجِ وَخَیۡرَالۡمَخۡرَجِ بِسۡمِ اللّٰهِ وَلَجۡنَا وَبِسۡمِ اللّٰهِ خَرَجۡنَا وَعَلَی اللّٰهِ رَبَّنَا تَوَکَّلۡنَا o**

**ترجمه:** اې الله! زه ستا څخه ښه داخلیدل او ښه وتل غواړم، دالله دنامه سره موږ داخل سوو او دالله په نامه موږ ووتلو او موږ پرخپل الله باندی توکل وکړی. (ابوداؤدص٣٣٩ج٢)

## مسجد ته د داخلیدو سنتونه

(۱) راسته پښه مسجد ته داخلول. (بُخاری ص٦١ ج١)

(۲) بسم الله ویل. (ابنِ ماجه ص٥٦)

(۳) درودشریف ویل مثلاً **اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوۡلِ اللّٰهِ o**

(ابنِ ماجه ص٥٦، ترمذی ص٧١ ج١، مشکوٰۃ ص٧٠ ج١،فیض القدیرص٤٣٢ ج ١)

(۴) دعاء ویل مثلاً **اَللّٰهُمَّ افۡتَحۡ لِیۡۤ اَبۡوَابَ رَحۡمَتِکَ o**

(ابنِ ماجه ص٥٦)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ترجمه: اې الله! زما دپاره دخپل رحمت دروازې خلاصې کړې.

(۵) د اعتکاف نیت کول. (شامی ص۴۳۵ ج۲)

## دمسجد څخه د راوتلو سنتونه

(۱) چپه پښه دمسجد څخه دباندې را ایستل. (بُخاری ص۶۱ ج۱)

(۲) بسم الله ویل. (ابنِ ماجه ص۵۶)

(۳) درودشریف ویل مثلاً اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰہِ ۝

(ابنِ ماجه ص۵۶، ترمذی ص۷ ج۱، مشکوٰۃ ص۷ ج۱، فیض القدیر ص۴۳۲ ج۱)

(۴) دعاء ویل اَللّٰھُمَّ اِنِّیۡۤ اَسۡئَلُکَ مِنۡ فَضۡلِکَ.

(ابنِ ماجه ص۵۶، مشکوٰۃ ص۶۸ ج۱)

ترجمه: اې الله! زه ستا څخه ستا د فضل سوال کوم.

## د مسواك سنتونه

(۱) دهر اودس کولو په وخت مسواك وهل سنت دی.

(ابوداؤد ص۸ ج۱، الترغیب والترهیب ص۱۰۰ ج۱)

(۲) دمسواك نیولو سنت طریقه چې دحضرت عبد الله ابنِ مسعود رضی اللہ عنہ څخه مروی ده چې دراسته لاس خمچه کوته دی ترمسواك لاندی ونیسی او بټه کوته دی دمسواك تر لوړ سر لاندی کښیږدی او نوری کوتی دی پرمسواك سرییره کښیږدی.

(شامی ج۱ ص ۸۵)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# د اوداسه سنتونه

په اوداسه کی اتلس ۱۸ سنتونه دی دهغو په اداکولو سره په کامله طریقه اودس کیږی.

(۱) د اوداسه نیت کول مثلاً داچی زه دلمانځه دمباح کیدو دپاره اودس کوم. (نسائی ص۲٤ج۱)

(۲) بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ په ویولو سره اودس کول. په ځینو روایاتو کی د اوداسه بِسْمِ اللّٰهِ داسی راغلې ده.

بِسْمِ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى دِيْنِ الْاِسْلَامِ ٥

(مراقی مع الطحطاوی ص۱۰۵ ج۱)

اوپه ځینی روایا تو کی داسی هم ده

بِسْمِ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ. (مجمع الزوائدج۱ص۵۱۳)

او په اوداسه کی دا دعاء ویل سنت ده.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ ذَنْبِیْ وَوَسِّعْ لِیْ فِیْ دَارِیْ وَبَارِکْ لِیْ فِیْ رِزْقِیْ ٥ (عمل الیوم واللیلة ص٤۲)

(۳) دواړه لاسونه تر بندو پوری پریوللل. (ابوداؤدص۱۵ج۱)

(۴) مسواك و هل، که مسواك نه وی نوپه ګوته غاښونه موړل. (مراقی مع الطحطاوی ج۱ص۱۰۵،۱۰٦)

(۵) دړې واری په خوله اوبه لغړول. (ابوداؤدص۱٤ج۱)

(٦) دړې واری په پزه کی اوبه اچول او دړې واره پزه سوغول. (ابوداؤد ص۱۹ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



⑦ په خوله او پزه کی په اوبه لغړولو کی مبالغه (ښه پورته) کول که روژه نه وی. (ابوداؤد ص۱۹ ج۱، مراقی ص ۱۰۹ ج۱)

⑧ هر اندام دري واری پریوللل. (بُخاری ص۲۸، ۲۷ ج۱)

⑨ دمخ پریولو په وخت کی دږیری خلال کول.

(ابوداؤدص ۱۹ ج۱، شامی ص۲۳۸ ج۱)

ف: په ږیره کی دخلال سنت طریقه دا ده چی د دري واری مخ پریولو وروسته په ورغوی کی اوبه واخله دزنی سره ئې په تالو کی واچوه او دږیری خلال وکه او ووایه

هٰكَذَآ اَمَرَنِیْ رَبِّیْ

⑩ دلاسو او پښو پریولو په وخت کی دګوتو خلال کول.

(ابوداؤد ص۱۹ ج ۱)

⑪ یوواری دټول سر مسح کول.

(سعایه ص۱۳۲ ج۱، شامی ص۲۴۳ ج۱)

⑫ دسر دمسح سره دغوږو مسح کول.

(نسائی ص۲۹ ج۱، شامی ص۲۴۳ ج ۱)

⑬ د اوداسه اندامونه په موږلو سره پریوللل. (مراقی ص۱۱۲)

⑭ اندامونه پیوسته پریوللل. (مراقی ص۱۱۳)

⑮ په ترتیب سره اودس کول. (هدایة ص۲۳ ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۶) راسته اندام اول پریوللل. (بخاری ص ۲۹ ج۱)

(۱۷) دسر دمخ دخوا څخه مسح شروع کول.

(بخاری ص۳۱ ج۱)

(۱۸) دغاړی مسح کول، دحلق مسح دی نه کوی دا بدعت دی.

(مراقی مع الطحطاوی ج۱ ص۱۱۵)

(۱۹) د اوداسه وروسته کلمه شهادت

**اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْکَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًاعَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ٥**

دویلو وروسته دا دعاء ووایه

**اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ ٥**

(ترمذی ص۱۸ ج۱)

**ترجمه:** اې اللّٰه! ته ماپه ډیر توبه کونکو اوښه پاکی حاصل کونکو کی شامل کړې.

**ف:** ددې دعا په باره کی دمشکوٰة په شرح مرقات کی ملّا علی قاری رحمة اللّٰه علیه فرمایلی دی چی اودس ظاهری طهارت (پاکی) دی، ددې دعا څخه دباطنی طهارت (پاکی) درخواست ورکړه سوی دی چی اول اختیاری وو هغه موږ وکی اوس ته پخپل رحمت سره زموږ باطن هم راپاك کړې.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## د اوداسه فرائض

ف: د اوداسه پورتنی طریقه دسنت په مطابق ده. په اوداسه کی ځینی شیان فرض دی که په هغو کی یوهم پا ته سی یاځه کمی پکښی راسی نو اودس نه کیږی او سړی بې اودسه پاتیږی. په اوداسه کی فقط څلورشیان فرض دی.

(۱) یوواری ټول مخ پریوول. (حاشیه الطحاوی علی المراقی ص۹۱،۹۲ج۱، هدایة ص ۱٦ ج۱، شامی ص ۲۰۸،۲۰۹ ج۱)

(۲) یو یو وار ترځنګلو پوری دواړه لاسونه پریوول.

(حاشیه الطحاوی علی المراقی ص۹٤ ج۱، شامی ص۲۱۱،۲۱۲ ج۱، هدایة ص۱٦ ج۱)

(۳) یوواری د سر دځلورمی حصې مسح کول.

(شامی ص۲۱۳ ج۱، حاشیه الطحطاوی۹۵ ج۱، هدایة ص۱٦ ج۱)

(۴) یو یو وار تربجلکو پوری دواړی پښې پریوول.

(شامی ص۲۱۱،۲۱۲ ج ۱، حاشیه الطحطاوی ص۹٤،۹۵ ج۱)

په دونه کولو سره به اودس وسی، مګر دسنت په مطابق اودس کولوسره اودس کاملیږی اوډیر ثواب حاصلیږی.

## دغسل کولوسنت طریقه

اول دواړه لاسونه تربندو پوری پریوله بیا د استنجاء ځای پریوله که پر لاس او د استنجاء پرځای نجاست(مرداری)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


لګیدلې وی که نه وی لګیدلې په هرحال کی دا دواړه ترمخه باید پریولل سی(او د استنجاء ځای دپریولولو څخه معنٰی داده چی دکوچنی او دغټ استنجاء دواړه ځایه پریوله) بیا پربدن باندی که یوځای منی یا بله ناپاکی لګیدلې وی نو هغه پاك که. ددې وروسته دسنت په مطابق اودس تازه که. که په پښو کی اوبه جمع کیدلې نو پښې مه پریوله.

د اوداسه وروسته دري واره پر سر باندی اوبه واچوه (دونه اوبه پر واچوه چی دسرڅخه ترپښو پوری پر ټوله بدن وبهیږی) او بدن په لاسو باندی موږه چی دبدن هیڅ حصه وچه پاته نسی، که د وریښته برابر ځای هم وچ پاته سو نوغسل نه کیږی. غرض پرټوله بدن باندی اوبه وبهیوه. بیا دهغه ځای څخه ایسته سه پاك ځای ته راسه پښې پریوله مګرکه دی د اوداسه په وخت کی پښې پریولی وې نو اوس ئې دپریولو ضرورت نسته. (بهشتی زیور، شامی جلد۱ صفحه ۱۵۷تر ۱۵۹)

ف: دغسل وروسته بدن په ټوکر (ټووال) باندی وچول هم ثابت دی او نه وچول هم. لهذا په دواړو کی چی کوم صورت هم ته اختیارکې دسنت نیت پکښی وکه.

(نسائی جلد۱صفحه۳۱، ترمذی جلد۱صفحه۱۸، شامی جلد۱صفحه ۹۷)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## دغسل فرائض

دغسل دا پورتنی طریقه دسنت په مطابق ده، په غسل کی ځینی شیان فرض دی چی دهغو ماسوا غسل نه صحیح کیږی او سړی ناپاکه پاتیږی. لهٰذا دغسل دفرائضو علم ضروری دی. په غسل کی فقط درې شیان فرض دی.

(۱) په خوله اوبه لغړول (داسی چی ټوله خولې ته اوبه ورسیږی).

( بهشتی زیور حصّه ۱ ص ٥٦ ، شامی ۲۹۲ ج ۱)

(۲) په پزه اوبه لغړول (ترکوم ځای چی پزه نرمه ده).

(نسائی ص ٥٠ ج ۱)

(۳) پر ټول بدن باندی اوبه اچول. (بهشتی زیورحصّه اوّل)

## د اذان او اقامت سنتونه

(۱) اذان او اقامت دقبلې وخواته کول سنت دی.

(مراقی مع الطحطاوی ص ۲۷٦ ج ۱)

(۲) د اذان توری کرارکرار ویل او د اقامت توری ژر ژر ویل سنت دی. (ترمذی ص٤٨ ج ۱)

(۳) په اذان کی د **حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ ، حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ** ویلو په وخت کی مؤذن ته راسته او چپه طرف ته مخ ګرزول سنت دی مګر سینه او قدمونه دی دقبلې وخواته وی.

(مراقی مع الطحطاوی ص ۲۷۷ ج ۱، شامی ص ٥۳ ج ۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



④ کله چې دمؤذن څخه د اذان کلمې واوري نو څنګه چې هغه وائي هغه سې کلمې ورسره وایه او د **حَیَّ عَلَی الصَّلٰوۃِ** او **حَیَّ عَلَی الْفَلَاحِ** په جواب کې **لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّۃَ اِلَّا بِاللّٰہِ** ووایه. (بخاری ص۸٦ج۱، مسلم ص۱٦٦ج۱)

⑤ د سهار په اذان کې د **اَلصَّلٰوۃُ خَیْرٌ مِّنَ النَّوْمِ** په جواب کې **صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ** ویل کیږی. (مراقی مع الطحطاوی ص ۲۸۵ج۱)

⑥ د اقامت جواب هم د اذان په رقم ورکول کیږی مګر **قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوۃُ** په جواب کې **اَقَامَهَا اللّٰہُ وَاَدَامَهَا** دی وویل سی. (ابوداؤدص۷۸ج۱)

⑦ د اذان جواب ورکولو وروسته درودشریف ویل سنت دی.

(مسلم ص ۱٦٦ج۱)

د درودشریف ویلو وروسته دا دعاء ووایه کوم چې په بخاری شریف کتابُ الاذان کې راغلې ده:

⑧ د اذان وروسته دعاء

**اَللّٰھُمَّ رَبَّ ھٰذِہِ الدَّعْوَۃِ التَّآمَّۃِ وَالصَّلٰوۃِ الْقَآئِمَۃِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِیْلَۃَ وَالْفَضِیْلَۃَ وَابْعَثْہُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَ نِ الَّذِیْ وَعَدْتَّہٗ ط اِنَّکَ لَا تُخْلِفُ الْمِیْعَادَ o**

**ترجمه:** اې اللّٰه! ددې ټولې بلنې ربه او د قائمیدونکې لمانځه ربه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


محمد ﷺ ته وسیله عطاء که او هغه ته فضیلت عطاء کړې او هغه مقامِ محمود ته ورسوې دکوم چې تا وعده دهغه سره کړیده، بې شکه چې ته وعده خلافی نه کوې.(بخاری ص۸٦ج۱)

**اِنَّکَ لَا تُخْلِفُ الْمِیْعَادَ** په بخاری شریف کی نسته. امام بیهقی په سننِ کبیر کی نقل کړی دی. (حصن حصین مع شرح فضل مبین)

**وَالدَّرَجَةَ الرَّفِیْعَةَ** لفظ اود **یَآاَرْحَمَ الرَّاحِمِیْنَ** الفاظ کوم چی مشهوره دی، ددې ثبوت په روایاتو کی نسته. ملّا علی قاری په مرقاة جلد نمبر۲ صفحه ۱٦۳ کی فرمائی

**وَاَمَّازِیَادَةُ وَالدَّرَجَةَ الرَّفِیْعَةَ اَلْمُشْتَهِرَةُ عَلَی اَلْاَلْسِنَةِ فَقَالَ السَّخَاوِیُ لَمْ اَرَهُ فِی شَیٍّ مِّنَ الرِّوَایَاتِ.**

ف: پر دې دعاء باندی د محمد ﷺ دشفاعت او دحُسنِ خاتمې (دښې خاتمې) انعام دی. (مرقاةجلد۲نمبرصفحه۳۳۱)

## د لمانځه یوپنځوس سنتونه
## د ولاړی یوولس سنتونه

(۱) د تکبیرتحریمه په وخت سیده(سیخ) دریدل یعنی سرنه ځړول.(طحطاوی علی المراقی ج۱ص ۳۰۲)

(۲) د دواړو پښو ترمینځ دځلورو ګوتو فاصله پریښول او دپښو ګوتی دقبلې وخواته ساتل. (طحطاوی ص۳۵۷ج۱، شامی ص۲۰۵ ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



**پاملرنه:** ځینو فقهاؤ دځلورو ګوتو فاصله مستحب بللې ده لیکن په فقه کی دمستحب اطلاق پرسنت اودسنت اطلاق پرمستحب کیږی.

کذا فی الشامی تجویزاطلاق اسم المستحب علی السنة وعکسه(ص۴۸ج ۳)

(۳) دمقتدی تکبیرتحریمه د امام دتکبیرتحریمه سره یوځای کیدل.

**ف:** دمقتدی تکبیرتحریمه که چیری د امام دتکبیرتحریمه ترمخه ختمه سی نو اقتدا ئې نه صحیح کیږی.

(طحطاوی علی المراقی ص۳۵۰ج۱)

(۴) دتکبیرتحریمه په وخت دواړه لاسونه ترغوږو پوری پورته کول.

(ابوداؤد ص۱۰۵ج۱)

(۵) ورغوی دقبلې وخواته ساتل.

(طحطاوی علی المراقی ص۳۵۰ج۱، شامی ص۲۰۲،۲۰۳ج۲)

(۶) ګوتی پرخپل حال باندی ساتل یعنی چی نه ډیری خلاصی وی او نه ډیری بندی.

(مراقی مع الطحطاوی ص ۳۴۹ج۱باب صفه الصّلاةص۱۷۱ج۲)

(۷) دراسته لاس ورغوی دچپه لاس د ورغوی پرشا ایښنول.

(طحطاوی علی المراقی ص۳۵۱،۳۵۲ج۱)

(۸) په خمچی او بټی ګوتی باندی حلقه جوړلو سره دلاس بند نیول.

(طحطاوی ص۳۵۲ج۱)

(۹) دمینځ دري ګوتی پر بند باندی ایښنول. (طحطاوی ص۳۵۲ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۱۰) ترنامه لاندی لاسونه ترړل. (شامی ص۱۸۷ج۲)

(۱۱) ثناء (سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ) ویل. (طحطاوی علی المراقی ص۳۵۱ج۱)

## دقرأت اووه سنتونه

(۱) تعوُّذ یعنی اَعُوْذُ بِاللّٰهِ ویل. (طحطاوی علی المراقی ص۳۵۳ج۱)

(۲) تسمیه یعنی دهر رکعت په سرکی بِسْمِ اللّٰهِ ویل.

(طحطاوی علی المراقی ص ۳۵۳ج۱)

(۳) په کراره آمین ویل. (طحطاوی علی المراقی ص۳۵۵ج۱)

(۴) دسهار او ماپښن په لمنځو کی طوِال مفصّل یعنی دسورهٔ حجرات څخه تر سورهٔ بروج پوری، دمازدیګر او ماخستن په لمنځو کی اوساطِ مفصّل یعنی دسورهٔ بروج څخه ترسورهٔ لَمْ یَکُنْ پوری او دماښام په لمانځه کی قصارِ مفصّل یعنی دسورهٔ لَمْ یَکُنْ څخه تر سورهٔ ناس پوری په سورتو کی یو سورت ویل.(طحطاوی علی المراقی ج۱ص۳۵۷،۳۵۸)

(۵) دسهار اول رکعت اوږدول. (طحطاوی علی المراقی ص۳۶۰ج۱)

(۶) ثناء، تعوُّذ، تسمیه او آمین کرار ویل.

(طحطاوی علی المراقی ص۳۵۵،۳۵۶ج۱)

(۷) دفرض په دریم اوخلورم رکعت کی فقط سورهٔ فاتحه (اَلْحَمْدُ لِلّٰه) ویل. (طحطاوی علی المراقی ص ۳۶۸ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



## د رکوع اته سنتونه

(۱) د رکوع تکبیر ویل. (طحطاوی علی المراقی ص ۳٦۰ ج۱)

(۲) په رکوع کی په دواړو لاسو ځنګنونه نیول.
(طحطاوی علی المراقی ص ۳٦۱ ج۱)

(۳) د ځنګنو په نیولو کی ګوتی خلاصی نیول.
(طحطاوی علی المراقی ص ۳٦۲ ج۱)

(۴) ملا ښه کښته کول. (شامی ص۱۹٦ ج۲)

(۵) پوندی سیده(سیخی) کول. (شامی ص۱۹۷ ج۲)

(٦) سر او کوناټی سره برابره ول. (شامی ص۱۹٦،۱۹۷ ج۲)

(۷) په رکوع کی دري واره **سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ** ویل. (طحطاوی ص۱٤٤)

(۸) د رکوع څخه په راپورته کیدو کی امام ته **سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ** په لوړ آواز ویل او مقتدی ته **رَبَّنَالَکَ الْحَمْدُ** او منفرد (یوازی) ته دواړه ویل (په کراره) او د رکوع وروسته په اطمنان سره سیده (سیخ) دریدل. (شامی ص ۲۰۱ ج۲)

## دسجدې دوولس سنتونه

(۱) سجدې ته دتګ په وخت کی تکبیر ویل. (شامی ص۲۰۲ ج۲)

(۲) په سجده کی اول دواړه ځنګنونه ایښنول.
(شامی ص۲۰۲ ج۲، طحطاوی علی المراقی۳٦۳ ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۳) بیا دواړه لاسونه ایښول.

(شامی ص۲۰۲ ج۲، طحطاوی علی المراقی ص ۳۶۳ ج۱)

(۴) بیا پزه ایښول. (شامی ص۲۰۳ ج۲ ، طحطاوی ص۳۶۳ ج۱)

(۵) بیا تندی ایښول. (شامی ص۲۰۳ ج۲ ، طحطاوی ص۳۶۳ ج۱)

(۶) په سجده کی سر د دواړو لاسو په مینځ کی ایښول.

(شامی ص۲۰۲ ج۲ ، طحطاوی علی المراقی ص۳۶۴ ج۱)

(۷) په سجده کی نس د ورنو څخه جلا ساتل او بغلونه دبازو ګانو (مټو) څخه جلا ساتل. (طحطاوی علی المراقی ص۳۶۵ ج۱)

(۸) څنګلی دمځکی څخه لوړ ساتل.

(طحطاوی علی المراقی ص۳۶۵ ج۱)

(۹) په سجده کی دري واره **سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی** ویل.

(هدایة ج۱ص۱۰۹)

(۱۰) دسجدې څخه د راپورته کیدو تکبیر ویل.(شامی ص۲۱۰،۲۱۱ ج ۲)

(۱۱) دسجدې څخه د راپورته کیدو په وخت کی اول تندی، بیاپزه، بیا لاسونه بیا ځنګنونه پورته کول.

(شامی ص۲۰۳ ج۲، طحطاوی علی المراقی ص۳۶۴ ج۱)

(۱۲) د دواړو سجدو په مابینځ کی په اطمنان سره کښینستل.

(طحطاوی علی المراقی ص۳۶۶ ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# دناستی دیارلس سنتونه

(۱) راسته پښه درول او چپه پښه په غوړولو سره پرهغې باندی کښینستل. (طحطاوی علی المراقی ص۳٦٦ ج۱)

(۲) دواړه لاسونه پر ورنو باندی ایښول. (طحطاوی علی المراقی ص۳٦٦ ج۱)

(۳) په التحیات کی پر اَشْهَدُاَنْ لَّآاِلٰهَ باندی دشهادت ګوته پورته کول او پر اِلَّااللّٰهُ باندی ئې کښته کول. (طحطاوی علی المراقی ص۳٦۷ ج۱)

(۴) په قعدهٔ آخره (آخری ناسته) کی درودشریف ویل.

(طحطاوی علی المراقی ص۳٦۹ ج۱)

(۵) د درودشریف وروسته دعاء ماثوره په هغو الفاظو کی چی دقرآن وحدیث سره مشابه وی ویل.

(طحطاوی علی المراقی ص۳۷۱ ج۱)

(٦) دواړو خواؤ (راسته چپه) ته سلام ګرځول.

(طحطاوی علی المراقی ص ۳۷۳ ج۱)

(۷) د سلام ابتداء دراسته خوا څخه کول.

(طحطاوی علی المراقی ص۳۷۳ ج۱)

(۸) امام ته دمقتدیانو، ملائیکواونیکو پیریانو نیت کول (په سلام کی).

(طحطاوی علی المراقی ص۳۷۳، ۳۷٤ ج۱)

(۹) مقتدی ته د امام، ملائیکو او نیکو پیریانو او د راسته چپه مقتدیانو نیت کول (په سلام کی). (طحطاوی علی المراقی ص۳۷۵ ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



۱۰ منفرد(یوازی) ته فقط دملائیکو نیت کول(په سلام کی).
(طحطاوی علی المراقی ص۳۷۵ ج۱)

۱۱ مقتدی ته د امام سره یوځای سلام ګرزول.
(طحطاوی علی المراقی ص ۳۷۵ ج۱)

۱۲ د دوهم سلام آواز تر اول سلام آواز کرار ویل.
(طحطاوی علی المراقی ص۳۷۵ ج۱)

۱۳ مسبوق (دچا چی لمونځ پاته وی) ته د امام دختمیدو انتظار کول. (طحطاوی علی المراقی ص۳۷۵ ج۱)

## دلمانځه فرائض

۱ تکبیر تحریمه. (شامی ص۱۲۸ ج۲، حاشیه الطحطاوی ص۳۰۰ ج۱)

۲ قیام (ولاړه). (شامی ص۱۳۱ ج۲،حاشیه الطحطاوی ص۳۰۹،۳۱۰ج۱)

۳ قرأت (دقرآن شریف څخه یو سورت یادرې کوچنی یا یوغټ آیت ویل). (حاشیه الطحطاوی ص۳۱۰،۳۱۱ ، شامی ص۱۳۳ ج۲)

۴ رکوع کول. (شامی ص۱۳۳ ج۲، حاشیه الطحطاوی ص۳۱۵)

۵ دواړی سجدې کول. (حاشیه الطحطاوی ص۳۱۶ ج۱)

۶ په قعدهٔ آخره (آخری ناسته) کی د التحیات په اندازه کښینستل. که په پورتنی شیانو کی یوهم پاته سو نولمونځ نه کیږی، بیرته کول غواړی.

**پاملرنه:** دلمانځه واجبات، دلمانځه مفسدات او نور مسائل په بهشتی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


زیور یا آئینهٔ نماز تالیف دمفتی سعید احمد صاحب رحمة الله علیه مفتی اعظم مظاهرالعلوم کی په کتو سره عمل وکی.

## دښځوپه لمانځه کی خاص فرق

(۱) ښځه دی دتکبیر تحریمه ویلو په وخت کی دواړه لاسونه تر وږو پوری پورته کی مګر لاسونه دی تر پورنی(ټکرې) دباندی نه راباسی. (حصن حصین ص ۲۲٤)

(۲) پرسینه دی لاسونه وترې او د راسته لاس ورغوی دی دچپه لاس ورغوی پرشا کښیږدی. دنارینوو په رقم دی په خمچه او بټه ګوته دلاس بند نه نیسی. (مرقات ص۳۵ج۳)

(۳) په رکوع کی دی لږ کښته سی او د دواړو لاسو ګوتی دی بندی پر ځنګنو کښیږدی، ګوتی دی نه خلاصه وی. دواړه بازوګان (متی) دی دبغلو سره ښه موښتی وساتی او ددواړو پښو بجلکی دی ښه سره ومښلوی. (طحطاوی شامی ج۲ص۱۸۸)

(۴) په سجده کی دی پښې نه دروی بلکه راسته خواته دې وباسی او ښه ورټوله او موښتې سجده دی وکی چی نس د ورنو سره او بازوګان(متی) دی دبغلو سره وموښلوی او ځنګلی دی پرمځکه کښیږدی. (بهشتی زیورحصّه دوم ص۱۷، شامی ج۲ص۱ ۲۱)

(۵) په قعده (ناسته) کی دی پر چپه خوا کښینی او دواړې پښې دی راسته خوا ته وباسی او پر ورنو دی دواړه لاسونه کښیږدی او دلاسو ګوتی دی ښه مښتی وساتی. (طحطاوی شامی ج۲ص۲۱۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



# دلمانځه هغه ادب چې دتولو دپاره برابر دی

په قیام(ولاړه) کې دسجدې پر ځای ، په رکوع کې پر پښو، په سجده کې پر پزه او د ناستې په وخت کې دغیږ وخواته ، دسلام ګرځولو په وخت کې پر وږو باندې دې نظر وې او که اړومې ورسې نو په پوره زور سره دې راوګرځوې ، او چې څونه کیږې خوله دې بنده وساتې او کله چې دتوخې اثر معلوم سې نوهم چې څونه کیږې ضبط دې کې. (ماخوذ از آئینۂ نماز تالیف حضرت مفتی سعیداحمد صاحب رحمة اللّٰه علیه مفتی اعظم مظاهرعلوم)

دهر فرض لمانځه وروسته ددې دعاؤ څخه دعاء ووایاست.دسلام ګرځولو وروسته اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ دریې واره ویل سنت دی. بیا دا ووایه

(۱) اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْکَ السَّلَامُ تَبَارَکْتَ یَاذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ. (طحطاوی ، شامی ج۲ص۱۸۲)

**ترجمه:** اې اللّٰه! ته سلامتی والا یې او هم ستا څخه سلامتی حاصلیدای سی ته بابرکت یې اې بزرګی او کرم کونکی.

**پاملرنه:** ملّاعلی قاری رحمة اللّٰه علیه په مرقاة جلدنمبر۲صفحه نمبر۳۵۸ کې لیکلی دی چې

اِلَیْکَ یَرْجِعُ السَّلَامُ فَحَیِّنَارَبَّنَابِالسَّلَامِ وَاَدْخِلْنَادَارَکَ دَارَالسَّلَامِ فَلَا اَصْلَ لَهٗ ٥ (طحطاوی ، شامی ج۲ص۱۸۸)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



یعنی ددې جملو په روایاتو کی ثبوت نسته بلکه ځینی قصه ګو خلکو اضافه کړیده

(۲) لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْکَ لَهٗ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ۝ (حصن حصین ص۲۲۳)

(۳) اَللّٰهُمَّ اِنِّىْٓ اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْجُبْنِ وَاَعُوْذُبِکَ مِنْ اَنْ اُرَدَّ اِلٰٓى اَرْذَلِ الْعُمُرِ وَاَعُوْذُبِکَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَاَعُوْذُبِکَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ۝ (حصن حصین ص۲۲۸)

**ترجمه:** اې اللّٰه!زه ستا پناه غواړم دبیریدو څخه اوستا پناه غواړم ددې خبرې څخه چې ورسیږم وه زیات عمر ته اوستا پناه غواړم د دنیا دفتنې څخه اوستا پناه غواړم دقبر دعذاب څخه.

## دجمعې سنتونه

(۱) غسل کول. (بخاری ص۱۲۰ ج۱)

(۲) ښه او پاك کالی اغوستل. (ابوداؤد ص۱۵٤ ج۱)

(۳) مسجد ته د ژرتللو فکر کول.(ترمذی ص۱۱۲ ج۱،ابنِ ماجه ج۱ص ۷٦)

(۴) مسجد ته پیاده تلل. (ابنِ ماجه ص۵٦ ج۱)

(۵) امام ته د نژدې کښینستلو کوښښ کول.

(ابنِ ماجه ص۷٦، ترمذی ص ۱۱۱ ج ۱)

(٦) که صفونه ډك وی نو دخلکو ترڅټو په اوښتو سره مخ ته نه تلل. (ابُوداؤدص۱۵۹ ج۱، ترمذی ص۱۱٤ ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



۷ یو فضول کارنه کول یعنی مثلاً پخپلو کالو یا وریښتانو بازی نه کول. (ابنِ ماجه ص۷۸)

۸ خطبه په غور سره اوریدل. (ترمذی ص۱۱۴ج۱، ابنِ ماجه ص۷۸)

۹ ددې څخه علاوه دجمعې په ورځ څوك چې سورهٔ کهف ووائی دهغه دپاره دعرش دلاندی څخه د آسمان برابر لوړ یو نور به ښکاره سی کوم چې دقیامت په تیاره کې به دده پکار ورځی اوددې جمعې ترتیری جمعې تر وله خطاوی (صغیره) دده وربخښل کیږی. (بهشتی زیورحصه۱۱ص۷۷، ابنِ کثیرص۱۲۲ج۵،الترغیب والترهیب ص۳۵۳ج ۱)

۱۰ دنبی کریمﷺ ارشاد دی چې دجمعې په ورځ پر ما باندی ډیر درود وایاست چې درود ماته وړاندی کیږی. (ابنِ ماجه ص۷۶)

۱۱ دجمعې په ورځ وریښتان غوړول او خوشبوئی یا عطر استعمالول سنت دی. (بخاری ص۱۲۱ج۱)

## د ډوډی یوځو سنتونه

۱ دسترخوان اوارول. (بخاری ص۸۱۸ج۲)

۲ دواړه لاسونه تر بندو پوری پریوول.
(بخاری ص۸۰۹ج۲، مسلم ص۱۷۲ج۲)

۳ بِسْمِ اللّٰه ویل په لوړ آواز سره. (بخاری ص۸۱۰ج۲)

۴ په راسته لاس خوراك کول. (مسلم ص۱۷۲ج۲)

۵ د ډوډی په مجلس کی کوم سړی چې تر ټولو بزرګ او لوی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



وی په هغه ډوډی شروع کول. (مسلم عن حذیفه ص۱۷۱ج۲)

۶ که خواږه یو رقم وی نو دخپل مخ څخه خوړل.(بخاری ص ۸۱۰ ج ۲)

۷ که چیری یوه ګوله ولویږی نو راپورته ئې که په پاکولو سره ئې خوړل. (مسلم ص۱۷۵ج۲)

۸ په څنګ وهلو سره خوراك نه کول. (بخاری ص۸۱۲ج۲)

۹ په خوړو کی عیب نه را ایستل.

(بخاری ص۸۱٤ج۲،مسلم ص۱۸۷ج۲)

۱۰ څپلکی په کښلو سره ډوډی خوړل. (مشکوٰة ص۳٦۸ج۲)

۱۱ د خوراك په وخت کی پر دوو ګوتو کښینستل چی دواړه ځنګنونه ولاړ وی اوکوناتی پرمځکه وی یا دی یوځنګون ولاړوی او بل ځنګون پر مځکه په ایښولو سره پر هغه دی کښینی یا دی دواړه ځنګنونه پرمځکه په ایښولو سره دقعدی (التحیات) په رقم کښینی اودمخ وخواته دی لزکوږ کښینی.

(مرقات ص۱۰۲ج۸، نووی شرح مسلم ص۱۸۰ج۲)

۱۲ د ډوډی لوښی، پیاله اوغاب پاکول، بیا لوښی دهغه دپاره دمغفرت دعاء کوی. (ابنِ ماجه ص۲۳۵)

۱۳ دخوراك وروسته ګوتی څټل. (مسلم ص۱۷۵ج۲)

۱۴ د خوراك وروسته دعاء کول

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِیْنَ ۝

(ترمذی ص۱۸٤ج۲، ابوداؤدص۱۸۲ج۲، ابنِ ماجه ص۲۳٦)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



**ترجمه:** ټول صفت د اللّٰه دپاره دی چا چې په موږ وخوړل او وچښل او مسلمان کړی ئی یو.

(۱۵) اول دسترخوان پورته کول بیا خپله ولاړیدل. (ابنِ ماجه ص۲۳۷)

(۱۶) د دسترخوان دپورته کولو دعاء کول

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُّبَارَكًا فِيْهِ غَيْرَ مَكْفِيٍّ وَّلَا مُوَدَّعٍ وَّلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا ٥**

(بخاری ص ۸۲۰ ج۲)

**ترجمه:** ټول صفت د اللّٰه دپاره دی داسی صفت چې ډیر پاك او بابرکته وی، اې زمونږ ربه موږ دا خواږه په کافی بللو سره یا بالکل په پریښولو سره یا ددې څخه ځان په مستغنی بللو سره نه پورته کوو.

(۱۷) دواړه لاسونه پریوللل. (ترمذی ص۶ ج۲، ابوداؤدص۱۸۲ ج۲)

(۱۸) په خوله اوبه لغړول. (بخاری ص ۸۲۰ ج۲)

(۱۹) که په سرکی **بِسْمِ اللّٰهِ** ویل هیره سی نو داسی دی ووائی **بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ ٥** (ترمذی ص۱۷ ج۲، ابوداؤدص۱۷۳ ج۲)

(۲۰) کله چې دیوچا دعوت (دمیلمستیا ډوډی) وخوړې نو هغه ته داسی دعاء وکه **اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَّنْ اَطْعَمَنِیْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِیْ ٥**

**ترجمه:** اې اللّٰه! چا چې وخوړه په ما په هغه ئې وخوړې او چاچې وچښل په ما په هغه ئې وچیښې. (مسلم ص۱۸۰ ج۲)

(۲۱) سرکه کارول سنت ده په کوم کورکی چې سرکه وی هغه کور

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دسالن (کتغ) محتاجه نه بلل کیږی. (ابنِ ماجه ص۲۳۸)

(۲۲) خالص غنم که یو څوك کاروی نوهغه ته پکار ده چی په هغه کی یوڅه وربشی هم ګډی کړی، که څه هم لږ وی چی پر سنت باندی دعمل کولو ثواب حاصل سی. (الجامع الصغیر ص۹۷۹ ج۲)

(۲۳) غوښی خوړل سنت دی، د رسول اللّٰه ﷺ فرمان دی چی په دنیا او آخرت کی دخوړو سردار غوښه ده.

(الاوسط للطبرانی ص۲۳۲ ج۸)

(۲۴) دخپل مسلمان ورور دعوت (میلمستیا) قبلول سنت دی. هوکې (زیاته پیسه) دسود یا درشوت وی یا هغه په بدکاری اخته وی نو دهغه میلمستیا باید قبوله نسی. (ابوداؤد ص۱۶۹ ج۲)

(۲۵) دمړی قربیانو یعنی دمړی کوروالاؤ ته ډوډی ورکول سنت ده.

(مسلم ص۱۷۲ ج۲، ابنِ ماجه ص۱۱۵)

## د اوبو چښلو سنتونه

(۱) په راسته لاس چښل، ځکه چی شیطان ئې په چپه لاس چښی. (مسلم ص۱۷۲ ج۲)

(۲) د اوبو چښلو ترمخه که ولاړ وې نوکښینستل، په ولاړی چښل منع دی. (مسلم ص۱۷۳ ج۲)

(۳) په **بِسْمِ اللّٰه** ویلوسره چښل او دچښلو وروسته **اَلْحَمْدُلِلّٰهِ** ویل. (ترمذی ص۱۰ ج۲، مشکوٰة ص۳۷۱ ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۴) په درې ساه ئې چښل او دساه کښلو په وخت لوښی دخولی څخه لیری کول. (مسلم ص۱۷٤ ج۲، ترمذی ص۱۰ ج۲)

(۵) دلوښی دماتی څنډې څخه نه چښل. (ابوداؤد ص۱٦۷ ج۲)

(٦) د ژی دخولی څخه په خوله اوبه مه چښنه یا که یو بل داسی لوښی وی چی دهغه څخه یودم دډیرو اوبو دراتللو اندیښنه وی یا دا اندیښنه وی چی په دی کی به یو مار یا لړم راسی.

(بخاری ص۸٤۱ ج۲، مسلم ص۱۷۳ ج۲)

(۷) صرف د اوبو چښلو وروسته دا دعاء ویل هم سنت ده.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ سَقَانَا عَذْبًا فُرَاتًا بِرَحْمَتِهٖ وَلَمْ یَجْعَلْهُ مِلْحًا اُجَاجًا بِذُنُوْبِنَا ۝ (روح المعانی ص۱٤۹ پاره ۲۷)

**ترجمه:** ټول صفتونه دالله دپاره دی چاچی پخپل رحمت سره په مورږ خوږې خوندوری اوبه وچښلې او زمورږ دګناهو په سبب ئې دا ترشی او تروپ کړی نه دی.

(۸) د اوبوچښلو وروسته که ئې نوروته ورکوې نواول ئې دراسته خوا کس ته ورکه اوبیا دی په دغه ترتیب سره دورختم سی، په همدې شکل دی چای یا شربت هم ورکړه سی.

(بخاری ص۸٤۰ ج۲، مسلم ص۱۷٤ ج۲)

(۹) دشیدو چښلو وروسته دا دعاء ووایه

اَللّٰهُمَّ بَارِکْ لَنَا فِیْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ ۝

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



**ترجمه:** اې اللّٰه! ته پدې کې موږته برکت راکې او دا موږته نور هم ډیر راپه نصیب کړې. (ابوداؤد ص۱۶۸ ج۲، ترمذی ص۱۸۳ ج ۲)

۱۰ ساقی (اوبو ورکونکی) ته په آخر کې چښل. (ترمذی)

## دلباس سنتونه

۱ درسول اللّٰه ﷺ سپین رنګ ټوکر خوښ ؤو.

(شمائل ترمذی ص۵، ابنِ ماجه ص۲۵۵)

۲ که قمیص، کورتی یا صدری وغیره اغوندې نواول راسته لاس په لستونی واغونده بیا چپه لاس همدا رنګه دپای جامی او پرتوګ دپاره اول راسته پښه بیا چپه پښه. (ترمذی ص۳۰۶ ج۱)

۳ پای جامه، پرتوګ یا لنګ تربجلکولو پرساته، تربجلکو لاندی په ځړولوسره اللّٰه تعالیٰ خوابدی کیږی. رسول اللّٰه ﷺ وفرمایل پرتوګ تربجلکو لاندی ځړونکی باندی به اللّٰه تعالیٰ درحمت نظر ونه کړی. (بخاری ص۸۶۱ ج۲ ،مسلم ص۱۹۴ ج۲)

۴ نوی کالی چې واغوندې دا دعاء ووایه

**اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ كَسَانِیْ هٰذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَاقُوَّةٍ** (ابوداؤد ص۲۰۲ ج۲)

**ترجمه:** ټول صفتونه د اللّٰه دپاره دی چاچې دا کالی په ما واغوسته او راپه نصیب ئې کړه بیله زما دکوښښ او قوت څخه.

۵ ترلنګوټې لاندی خولی پر سره ول سنت ده. (مرقات ج۸ص۲۱۵)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(٦) درسول الله ﷺ کُرته(ترخځی قمیص) ډیر خوښ وو.
(ترمذی ص٣٠٦ ج١، ابوداؤدص٢٠٢ ج٢، ابنِ ماجه ص٢٥٥،٢٥٦)

(٧) توره لنګوټه ټرل سنت ده.شمله را ایله کول هم سنت ده.
(نسائی ص٢٩٩ ج٢)

(٨) رخچینه(خولی) پر سره ول سنت ده. (مرقات ج٨ص٢١٥)

(٩) که قمیص یا کُرته وغیره کښل وی نواول چپه لاس دلستونی څخه وکاږه بیا راسته لاس، همدارنګه دپرتوګ یا پاجامی دکښلو په وخت اول چپه پښه راوکاږه بیا راسته.
(ترمذی ص٣٠٦ ج١، مشکوٰة ص٣٧٤ ج٢)

(١٠) څپلکه اول په راسته پښه په پښو که بیا په چپه پښه.
(بخاری ص٨٧٠ ج٢، مسلم ص١٩٧ ج٢)

(١١) څپلکی دکښلو په وخت اول ئې دچپې پښې څخه وکاږه بیا دراسته پښې څخه. (بخاری ص٨٧٠ ج٢، مسلم ص١٩٧ ج٢)

## د وریښتانو سنتونه

(١) دنبی کریم ﷺ دسر مبارك د وریښتانو اوږدوالی دغوږو تر نیمی پوری اودښل روایت په مطابق ترغوږو پوری او د یوبل روایت په مطابق دغوږو تر نرمی پوری وو، هغه ته دنږدې روایات هم سته.
(شمائل ترمذی ص٣، غنیة الطالبین ص٤٣،٤٤، مرقات ص٢٧٨،٢٧٩ ج٨)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۲) پر ټول سر وریښتان پریښوول ترغوږو تر نرمی پوری یا ترهغه یوځه اندازه کښته پریښول سنت دی او ټول سرخریل هم سنت دی او که ئې کوچنی کوې نو دټول سر وریښتان دهری خوا څخه برابر کوچنی کول روا دی مګر دمخ خوا غټ پریښول او دڅټ خوا کوچنی کول کوم ته چی انګریزی وریښتان ویل کیږی روا نه دی، همدارنګه دسر یوځه خوا خریل او یو څه خوا پریښول هم روا نه دی، اللّٰه تعالٰی دی هرمسلمان ددې څخه وساتی. (بهشتی زیور حصّه۱۱صفحه۱۱۵)

(۳) دږیری دغټولو او دبریتوکوچنی کولو په باره کی په حدیثوکی حکم راغلی دی (بخاری ومسلم) ږیره خریل یا تر یوه مټ کوچنی کول حرامه ده. (بهشتی زیورحصّه۱۱صفحه۱۱۵)

اللّٰه تعالٰی دی هر مسلمان ددې څخه وساتی، یومټ ږیره پریښول واجب ده او دیوه مټ اندازه دسنت څخه ثابته ده.

(بخاری ص۵۷۵ج۲، مسلم ص۱۲۹ج۱)

(۴) دبریتو په کوچنی کولو کی مبالغه(بنې کوچنی) کول سنت دی. دغټو غټو بریتو پر پریښولو باندی په حدیثو کی سخت وعید (عذاب) راغلی دی. (بهشتی زیورحصّه۱۱صفحه۱۱۵)

(۵) تر نامه لاندی، بغل او دبریتو وریښتان او نوکان وغیره په اخیستولو سره باید پاك صاف واوسیږی. که څلویښت ورځی باندی تیری سی او صفائی ونه کړی نو به ګناهګاره وی. (بخاری ص۸۷۵ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(٦) وریښتان پریولل، غوږول او ږمونځول سنت دی، مګر که ضرورت نه وی نو په مابین کی یو ورځ او دوې باید ناغه پکښی وسی. (اوجزالمسالك ص٢٦٨ج١٤)

(٧) وریښتان چی ږمونځه وې نو اول ئې دراسته خوا څخه شروع که. (بهشتی زیورحصّه١١صفحه١١٦، بخاری ص١٦ج١)

(٨) د ږمونځولو په وخت یا دضرورت په وخت کی کله چی هم هینداره(آئینه) ته وګوري نودا دعاء وکه.

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِیْ فَحَسِّنْ خُلُقِیْ ٥

ترجمه: اې اللّٰه! څنګه چی تا زما صورت ښه جوړکړی دی زما اخلاق هم را ښه کړې. (مشکوٰه ص٣٨١ ج٢، حصن حصین ص٣٤٦)

## ناجوړی علاج او دعیادت سنتونه

(١) په ناجوړی کی دوا او علاج کول سنت دی علاج دی کوی مګر د ناجوړی څخه په شفاء کی دی نظر پر اللّٰه تعالٰی وساتی.(نووی شرح مسلم ص٢٢٥ج٢)

(٢) په کلونجی او عسلو سره علاج کول سنت دی. درسول اللّٰه ﷺ ارشاد دی چی اللّٰه تعالٰی په دې دواړو شیانو کی شفاء ایښې ده. ددې دواړو په صفت کی ډیر حدیثونه راغلی دی.(بخاری ص٨٤٨ج٢)

(٣) دعلاج په وخت کی دتاوان رسوونکی شیانو څخه باید پرهیز وسی. (بخاری ص٨٤٣ج٢)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۴) دخپل مریض وروږ دپوښتنې دپاره ورتلل سنت دی. درسول ﷺ ارشاد دی **عُوْدُوا الْمَرِيْضَ**. (بخاری) دمریض عیادت (پوښتنه) وکی او دحضرت جابرؓ څخه روایت دی

**مَرِضْتُ مَرَضًا فَاَتَانِی النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُوْدُنِیْ** الخ

فرمائی چی زه ناجوړه سوم نو رسول اللّٰه ﷺ زما دعیادت (پوښتنی) دپاره تشریف راوړی. (بخاری ص۸٤٤ج۲)

(۵) دپوښتنی وروسته ژر بیرته راتلل سنت دی. (مشکوٰة) داسی نه وی چی ستا دډیری ناستی په سبب مریض په عذاب او غمزده سی یا دکورواالاؤ په کار کی خلل رانه سی.

(مشکوٰة ص ۱۳۸ ج۱)

(٦) دمریض هر رقم تسلّی کول سنت ده مثلاً هغه ته دی دا ووایی چی انشاء اللّٰه ته به ژرجوړ سې. خدای تعالیٰ ډیر قدرت والا دی، دخوف یا دبیری پیدا کولو خبره دی مریض ته نه کوی.

(مشکوٰة ص ۱۳۷ ج۱)

(۷) کله چی دیو مریض عیادت(پوښتنه)وکې نو هغه ته داسی ووایه

**لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ ٥**

**ترجمه:** هیڅ پروانسته انشاء اللّٰه دا ناجوړی دکناهو څخه پاکونکی ده. (بخاری ص۸٤٤ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


بیا دی دهغه دشفاء دپاره اووه واره دا دعاء ووایی

اَسْئَلُ اللّٰهَ الْعَظِیْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ اَنْ یَّشْفِیَکَ ٥

(بخاری ص٨٤٥ج٢)

**ترجمه:** زه د اللّٰه تعالیٰ څخه سوال کوم چی عظیم دی او دعرش عظیم رب دی چی تا ته شفاء درکړی.

(٨) رسول اللّٰه ﷺ ارشاد فرمایلی دی چی اووه واره ددې په ویلو سره به مریض ته شفاء نصیب سی، هوکه دهغه مرګ راغلی وی نو بله خبره ده. (مشکوٰة ص١٣٥ج٢)

## دسفر سنتونه

(١) ترڅو پوری چی کیدای سی په سفرکی دی کم ازکم دوه کسان ولاړسی، یوازی سړی دی سفر نه کوی هو په ضرورت او مجبوری کی هیڅ پرواه نه لری چی یوازی سړی سفر وکی. (فتح الباری ص٥٣ج٦)

(٢) دسواری دپاره چی په رکاب کی پښه کښیږدې نو بِسْمِ اللّٰه ووایه. (ترمذی ص١٨٢ج٢)

(٣) پرسواری باندی چی پښه سم کښینې نو دړې واره اَللّٰهُ اَکْبَر ووایه بیا دا دعاء ووایه

سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَلَنَا هٰذَا وَمَا کُنَّا لَهٗ مُقْرِنِیْنَ

وَاِنَّآ اِلٰی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ ط (مسلم وترمذی)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



**ترجمه:** پاك دی هغه ذات چاچی زمونږ تابع کړه دا سواری او نسوای مونږ دا قابو کولای او بې شکه مونږ دخپل رب وخوا ته تلوونکی یو. (مسلم ص٤٣٤ ج١، ترمذی ص١٨٣ ج٢)

(٤) بیا دا دعاء ووایه

**اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَاسَفَرَنَاهٰذَاوَاطْوِعَنَّابُعْدَهٗ.**

**اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الصَّاحِبُ فِی السَّفَرِوَالْخَلِيْفَةُ فِی الْاَهْلِ.**

**اَللّٰهُمَّ اِنِّیْٓ اَعُوْذُبِکَ مِنْ وَّعْثَاءِ السَّفَرِوَكَاٰبَةِالْمَنْظَرِ**

**وَسُوْٓءِالْمُنْقَلَبِ فِی الْمَالِ وَالْاَهْلِ وَالْوَلَدِ.** (مسلم، حصن حصین)

**ترجمه:** اې اللّٰه! آسانه کی پرمونږ باندی دا سفر او طې کې پرمونږ باندی اوږدوالی ددې اې اللّٰه هم ته مو دسفر رفیق(مددګاره) یی او خبر کوونکی یی په کور بار کی. یااللّٰه زه پناه غواړم ستا دسفر دتکلیف څخه او د بدحال دلیدو څخه او په بیرته راتګ سره دبدحال دلیدو څخه په مال کی او په کور کی او په بچیانو کی. (مسلم ص٤٣٤ ج١،حصن حصین ص٢٧٩)

(٥) که په سفر کی دقیام ضرورت پیښ سی نو سنت دا دی چی د لاری څخه دې چپ قیام وکی، په لاره کی دی قیام نه کوی چی دتلونکو راتلونکو لار بنده سی او هغو ته تکلیف وی. (مسلم ص١٤٤ ج٢)

(٦) په سفر کی کله چی سواری لوړی ته خیژی نو **اَللّٰهُ اَكْبَرُ** دی وائی.

(بخاری ص٤٢٠ ج١)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



⑦ کله چې سواری پرکښته ورسی نو **سُبْحَانَ اللّٰه** دی وائی.

(بخاری ص ٤٢٠ ج١)

**فائده:** په مرقاة کی لکلی دی چی دا سنت دسفر دی مګر په خپلو کورو کی یا دمسجد وه زینوته دختلو په وخت کی دی راسته پښه ورمخته کی او **اَللّٰهُ اَکْبَرُ** دی ووائي که څه هم یوه زینه وی او د راکښته کیدو په وخت کی دی چپه پښه رامخته کی او **سُبْحَانَ اللّٰه** دی ووائي که څه هم معمولی کښته وی نو دسنت دثواب امید سته او ملّا علی قاری لوړی ته دختلو په وخت د **اَللّٰهُ اَکْبَرُ** دویلو راز دا بیان کړیدی چی پر لوړه باندی که څه هم په ظاهره موږ لوړ معلومیږو مګر اې اللّٰه! موږ لوړ نه یو لوړوالی اوغټوالی فقط ستا دپاره خاص دی او لاندی دکښته کیدو په وخت **سُبْحَانَ اللّٰه** ویل پدې دی چی موږ کښته یو اې اللّٰه! ته دکښتوالی څخه پاك ئې.

⑧ کوم ښار یا کلی ته چی دی د ورتګ نیت وی کله چی هغه ته ورداخیلیږی نو دې واره دا دعاء ووایه

⑨ **اَللّٰهُمَّ بَارِکْ لَنَا فِیْهَا**ه (مرقات ص٣٣٩ج٥)

**ترجمه:** اې اللّٰه! برکت راکړې موږ ته په دې ښار کی.

بیا دی دا دعاء ووایه. (مرقات ص٣٣٩ج٥)

**اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا جَنَاهَا وَحَبِّبْنَآ اِلٰی اَهْلِهَا وَحَبِّبْ صَالِحِی اَهْلِهَآ اِلَیْنَا** ه

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


**ترجمه:** یا الله! رانصیب کړې موږ ته میوې ددې ښار او ګران کړې موږ ددې ښار پرخلګو او محبت راکړې موږ ته ددې ښار دنیکو خلګو. (حصن حصین)

(۱۰) درسول الله ﷺ ارشاد دی چې کله دسفر ضرورت پوره سی نو کورته دی راسی، په سفرکی بیله ضرورته پاتیدل ښه نه دی.

(حصن حصین ص۲۸٤)

(۱۱) دلیری سفر څخه دډیری ورځو وروسته که په نیمه شپه کی کورته راسی نوهغه وخت دی کور ته نه ځی بلکه ښه دادی چې سهار کورته ولاړسی. (بخاری ص٤۲۱ ج۱، مشکوٰة ص۳۳۹)

**فائده:** اوکه کوروالا ستا دناوخته په راتګ خبر وی او هغه ستا په انتظار هم وی نو هغه وخت کور ته په داخیلدو کی هیڅ پرواه نسته. (مرقات ص ٤۱٦، ۲۱۷ج۷)

پردې سنتو طریقو باندی په عمل کولو سره به ددین او دنیا ښادی حاصله سی.

(۱۲) په سفرکی سپی او ګهنګرو(د رقص زنګولې) دځان سره دساتلومممانعت راغلی دی.(مسلم ص۲۰۲ ج۲) ځکه چې ددې په خاطرشیطان په شا ورپسې سی او دسفربرکت دمینځه څخه ځی. (مشکوٰة ص۳۳۸ج۲)

(۱۳) دسفر څخه دراتلونکی دپاره دا سنت دی چې کورته د

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


داخلیدو ترمخه مسجد ته ولاړسی دوه رکعته لمونځ وکړی.
(مشکوٰة ص۳۳۹ ج۲، مسلم ص۲٤۸ ج۱)

(۱۴) کله چی دسفر څخه بیرته راسی نو دا دعا دی ووائی

آئِبُوْنَ تَآئِبُوْنَ عَابِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ ٥

**ترجمه:** موږ راتلوونکی یو، توبه کوونکی یو، دالله تعالی بندګی کوونکی یو، دخپل رب حمد کوونکی یو.
(مُسلم ص٤۳٥ ج۱، ترمذی ص۱۸۲ ج۲)

## دنکاح سنتونه

(۱) مسنون(برکت والا) نکاح هغه ده چی ساده وی په هغه کی هنګامه یا ډیرتکلّفات او دجهیز او دداسی نوروشیانوجنجال پکښی نه وی. (مشکوٰة ص۲٦۸ ج۲)

(۲) دنکاح دپاره نیك اوصالح سړی پیدا کول اوکوزده یاپیغام ورلیږل سنت دی. (مشکوٰة ص۲٦۷ ج۲)

(۳) دجمعې په ورځ په مسجدکی او دشوال په میاشت کی نکاح کول خوښه سوې او سنت ده. (مرقات ص ۲۷٦ ج٦)

(۴) نکاح مشهوره کول سنت ده . (مشکوٰة ص۲۷۲ ج۲)

(۵) تروسه پوری مهر مقررول سنت دی. (مشکوٰة ص ۲۷۷ ج۲)

(٦) دواده په اوله شپه کله چی دمینې سره یوازی سی نودی دمینې تندی ونیسی او دا دعا دی ووائی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَسۡئَلُکَ خَیۡرَهَاوَخَیۡرَمَاجَبَلۡتَهَاعَلَیۡهِ
وَاَعُوۡذُبِکَ مِنۡشَرِّهَا وَشَرِّمَاجَبَلۡتَهَاعَلَیۡهِ ٥

**ترجمه:** اې اللّٰه! زه ستاڅخه ددې دخیر اوددې دعادتواواخلاقو دخیر سوال کوم اوددې د اخلاقو او عادتو دشرڅخه ستا پناه غواړم.(ابوداؤدص۲۹۳ج۱، ابنِ ماجه ص۱۳۸)

۷ کله چې دمینې سره دصحبت اراده وکې نو دا دعا دی ووائی بیا که اولاد وسی نو پرهغه باندی شیطان نسی مُسلّط کیدای اوهغه تاوان نسی ورسولای.دعا داده

بِسۡمِ اللّٰهِ.اَللّٰهُمَّ جَنِّبۡنَاالشَّیۡطٰنَ وَجَنِّبِ الشَّیۡطٰنَ مَارَزَقۡتَنَا ٥

**ترجمه:** زه داللّٰه نوم په اخستوسره دا کارکوم.اې اللّٰه! موږدشیطان څخه وساتې اوکوم اولاد چې ته موږ ته راکې هغه هم دشیطان څخه لیرې وساتې. ددې دعا په ویلوسره چې کوم اولاد وسی هغه ته به هیڅکله شیطان ضرر نسی ورسولای.

(بخاری ص۷۷٦ج۲، ابوداؤدص۲۹۳ج۱، ابنِ ماجه ص۱۳۸)

# ولیمه

۱ د واده شپه دتیرولو وروسته په خپل قریبانو، دوستانو، خپلوانو او مسکینانو باندی د ولیمې ډوډی خوړل سنت ده. د ولیمې دپاره ضروری نه ده چې په غټه پیمانه ډوډی تیاره کړی اوپه وبخوری، لږ ډوډی دی دخپل وسه پوری تیاره کړی په

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


دوستانو، عزیزانو او نورو باندی لږلږ خوږل هم دسنت د ادا کولو دپاره کافی ده ، ډیره بده ولیمه هغه ده چی مالدار او دنیادار خلګ خو راوغوښتل سی مګر غریب، مسکین، محتاجه او دیندار خلګ ځینی وشړل سی. (بخاری ص۷۷۸ج۲)

**شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيْمَةِ يُدْعٰى لَهَا الْاَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَآءُ**

ددا سی بدی ولیمې څخه باید ځان وساتل سی. په ولیمه کی دسنت د ادا کولو نیت وکه. دیندار غریب او محتاجه خلګ راوغواړه، په مالدارانو کی هم چی هر یودی زړه غواړی راوئې غواړه مګر غریبان مه پوری وهه. کومه ولیمه چی دنامه او د ریا دپاره یا دخلګو دتعریف دپاره وسی هغه هیڅ ثواب نه لری بلکه دالله تعالی دناراضه کیدو او قهر اندیښنه سته.

## د کوچنی پیدا کیدو دوخت سنتونه

(۱) کله چی کوچنی پیدا سی نودهغه په راسته غوږ کی اذان او په چپه غوږ کی تکبیر ویل. (ترمذی ص۲۷۸ج۱، علیکم بسنتی ص۵۵)

(۲) کله چی کوچنی د اوو شپو سی نو دهغه ښه نوم ایښول.

(ابوداؤدص۳۶ج۲)

(۳) اوومه ورځ عقیقه کول که په اوومه ورځ عقیقه ونه کړه سی نوپه څورلسمه ورځ که نې په یوویشتمه ورځ دې وکی.

(ابوداؤدص ۳۶ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



④ دکوچنی دسر خریيلو سره دوريښتانو دوزن په اندازه سپن زرخيرات ول. (ترمذی ص۲۷۸ ج۱)

⑤ دسرخريلو وروسته دکوچنی پر سر زعفران وهل.(ابوداؤد ص۳۷ ج۲)

⑥ دهلك په عقيقه کی دوه وزګړی يا دوې بوزې او د انجلی دعقيقې دپاره يو وزګړی يا بوزه حلالول.

(ترمذی ص۲۷۸ ج۱، ابن ماجه ص ۲۲۸)

⑦ دعقيقې غوښی اومې يا پخ سوی ويشل کيدلای سی.

(بهشتی زيور حصّه ۳ص۴۳، الفقة السلامی ص۲۷۴۹ ج۴)

⑧ دعقيقې غوښی اناګانی ، نيکه ګان ټوله ئې خوړلای سی.

(بهشتی زيور حصّه ۳ص۴۳، الفقة السلامی ص۲۷۴۹ ج۴)

⑨ په يو بزرګ باندی خورما ژوول دکوچنی په خوله کې اوراچول يا ئې په څټل او دعا په کول.

(بخاری ص۸۲۰ ج۲، مسلم ص۲۰۹ ج۲، مشکوٰة ص ۳۶۲ ج۲)

⑩ کله چی کوچنی د اوو کالو سی نو هغه ته دلمانځه او ددين نوری خبری ورزده کول.(مشکوٰة ص۵۸ ج۱)

⑪ کله چی کوچنی دلسو کالو سی نو په سختی سره په خوشکه لمونځ په کول او که ضرورت پيښ سی نو سزا ورکول چی دلمانځه عادی سی. (مشکوٰة ص ۵۸ ج۱)

**پاملرنه:** نن سبا په نازورکولو سره کوچنيان خرابوی او په داسی ويلو

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



سره خپل ځان ته اطمنان ورکوی چی لوی سی کوچنی سمیږی. یاد وساتی چی که بنیاد کوږ سی نو پرهغه باندی جوړیدونکی تعمیر به هم کوږوی. پدې خاطر د اوله سره ځخه اولاد باید په ښه اخلاقو باندی ښائسته سی که نې وروسته به ارمان کوی.

## دمرګ او دهغه وروسته سنتونه

(۱) کله چی دا معلومه سی چی دمرګ وخت نژدې دی نو هغه وخت چی کوم خلګ هلته موجود وی دهغه مخ دی دقبلې وخواته وګرځوی او دکلمی تلقین دی ورته وکړی یعنی کلمه دی وائی.

(المستدرك للحاكم ص۳۵۳ ج۱)

(۲) کله چی مرګ نژدې معلوم سی نو دا دعا دی ووائی

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ وَارْحَمْنِیْ وَاَلْحِقْنِیْ بِالرَّفِیْقِ الْاَعْلٰی ٥

**ترجمه:** اې اللّٰه! ما وبخښې او پرما باندی رحم وکې اوما ولوړو ملګروته ورورسوې. (ترمذی ص۱۹۲ ج۱، ابوداؤد ص۸۸ ج۲)

(۳) کله چی دنفس ختلوآثار محسوس سی نو دا دعا دی ووائی

اَللّٰهُمَ اَعِنِّیْ عَلٰی غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَسَکَرَاتِ الْمَوْتِ ٥

**ترجمه:** اې اللّٰه! دمرګ دسختیو پر وخت باندی زما مدد وکړی.

(بخاری ص۹۳۹ ج۲/ص۸٤۷ ج۲، مسلم ص۲۸٦ ج۲، ترمذی ص۱۸۷ ج۲)

(۴) کله چی مرګ واقع سی نو اهلِ تعلق دی دا دعا ووائی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ط اَللّٰهُمَّ اْجُرْنِیْ فِیْ مُصِيْبَتِیْ وَاخْلُفْ لِیْ خَيْرًا مِّنْهَا ٥

**ترجمه:** بې شکه موږ د الله دپاره یو او موږ د الله وطرف ته تلونکی یو، اې الله! ماته زما په غم کی اجر راکړې او ددې په عوض کی ماته ترې ښه بدل راکړې. (ترمذی ص۱۹۲ج۱)

۵ دروح دوتلو وروسته دی دمړی سترګی بندی کړی.

(مسلم ص۳۰۰ج۱، هدایه ص۱۸۹ج۱)

۶ څوك چی مړی پرتخته باندی د ایښولو دپاره پورته کی یا جنازه پورته کی نو بِسْمِ اللّٰه دی ووائی.

(ابن ابی شبیة ص٤٨٥ ج٢)

۷ دمړی په ښنخولو کی تلوار کول سنت دی. (ابُوداؤد ص۹۷ج۲)

۸ کله چی مړی په قبر کی ایږدې نو دا دعا ووایه

بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰی مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٥

(مشکوٰة ص۱٤۸ ج۱)

۹ مړی په قبرکی پر راسته بغل باندی باید داسی کښیښول سی چی پوره سینه ئې دکعبې شریفی وخوا ته وی او شا ئې دقبر ددیواله سره وموښلی. نن سبا خلګ فقط مخ ئې دکعبې شریفی وخواته کی او ستونی ستخ ئې پری باسی چی سینه ئې دآسمان

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


وخواته وی، دا بالکل دسنت خلاف دی. (طحطاوی ص۲۵۸ج۲)

(۱۰) دمړی خپلوانو یعنی کوروالاؤ ته ډوډی ورکول سنت ده، دا ډوډی وټوله خاندان یا خپلوانو ته خوړل روا نه ده، دنامه او ریا دپاره داسی کول روا نه دی چی څه موجود وی وردې کړی.

(ترمذی ص۱۹۵ج۱، ابنِ ماجه ص۱۱۵)

(۱۱) کله چی به دمړی دښخیدوڅخه حضرت محمدﷺ فارغه سو نوخپله به ئې هم او نورو ته به ئې وفرمایله چی دخپل وروردپاره استغفار وکی او دثابت قدم پاته کیدو دعا وکی چی اللّٰه تعالیٰ دی دمنکر نکیر په جواب کی ثابت قدم وساتی.

(ابوداؤدص۱۰۳ج۲، مستدرك ص۵۲۶ج۱)

(۱۲) دښخولو وروسته دمړی دپاره دقبلې وخواته مخ په کولو سره دعا کول سنت ده، مګر دجنازې دلمانځه وروسته دعا کول لکه څنګه چی نن سبا رواج سوی ده روا نه ده.

(مرقات ص٦٤ج٤، البحرالرائق ص۱۸۳ج۲)

## دبیدیدو سنتونه

(۱) دنبی کریمﷺ څخه پردې ټولو شیانو باندی استراحت کول کول ثابت دی.

① بوریا ② چټائی ③ دټوکر فرش ④ مځکه
⑤ تخت ⑥ چارپائی ⑦ چرم اوپوست (زادالمعادص۱۰۸ج۱)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(۲) په اوداسه بیدیدل سنت دی. (ابوداؤدص۳۳۱ج۲)

(۳) کله چې خپل بستر ته راسې نو هغه دټوکره په پلو سره درې واره ټك وهه.
(مسلم ص۳٤۹ج۲، ابوداؤدص۳۳۲ ج۲، ترمذی ص۱۷۷ج ۲، ابنِ ماجه ص۲۷٦)

(۴) دبیدیدو ترمخه په بِسْمِ اللّٰه ویلو سره دی لاندی ذکر سوی کارونه وکی.

(۱) دروازه دی بنده کی (۲) څراغ دی مړ کی
(۳) د ژی خوله دی وتړی (۴) دلوښو سر دی پټ کی
(مسلم ص۱۷۰ج۲)

(۵) دماخستن ترلمانځه وروسته دکیسو او نقلو ممانعت دی، دلمانځه وروسته باید بیده سی، هو د وعظ او نصیحت دپاره یا دروزی، معاش دپاره دناستی اجازه سته. (مرقات ص۲۷۵ج۲)

(٦) دبیدیدو پر وخت په هره سترګه کی درې درې سلائی رانجه (رانجی) لګول دښځی او نارینه دواړو دپاره سنت دی.
(الترغیب والترهیب ص۸۹ج۳)

چی کله دی دبیدیدو نیت وی نو دقرآن شریف آیاتونه او سورتونه ووایه. مثلاً الحمدشریف، آیة الکُرسی، سورهٔ ملك (تَبَارَكَ الَّذِیْ)، څلور سره قُل او درود شریف. که چیری ډیرنه سې ویلای نو یو یا دوه سورته ضرور ووایه چی دا ددنیا او آخرت دکامیابی او نیك

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



بختی بنیاد دی.(مسنداحمد ص۳۵۸ج۱ ، ابنِ ماجه ص۲۵۸)

(۷) دبیدیدو ترمخه دی تسبیح فاطمه وویل سی یعنی سُبحان اللّٰه۳۳ واره الحمدالله۳۳ واره اواللّٰه اکبر۳٤ واره ووایی.
(بخاری ص۹۳۵ج۲،مسلم ص۳۵ ج۲،ابوداؤدص۳۳٤ج۲، ترمذی ص۱۷۸ج ۲)

(۸) دبیدیدو پروخت پر راسته بغل مخ دقبلې وخوا ته بیدیدل سنت دی. (شمائِل ترمذی ، ابوداؤدجلد۲صفحه۳۳۲)

پرمخی پریوتل داسی چی سینه دمځکه وخواته اوشا دآسمان طرف ته وی منع دی. (ترمذی جلد۲ ص۱۰۵ ، ابوداؤد جلد۲ص۳۳)

(۹) پر بستر چی پریوزې دا دعا ووایه

**بِاسْمِکَ رَبِّیْ وَضَعْتُ جَنْبِیْ وَبِکَ اَرْفَعُهٗ اِنْ اَمْسَکْتَ نَفْسِیْ فَاغْفِرْلَهَا وَاِنْ اَرْسَلْتَهَافَاحْفَظْهَابِمَا تَحْفَظُ بِهٖ عِبَادَکَ الصَّالِحِیْنَ۝**

(بخاری جلد۲ ص ۹۳۵،مسلم جلد۲ص ۳٤۹،ترمذی جلد۲ ص۱۷۷)

(۱۰) بیا دی دا دعا ووائی

**اَللّٰهُمَّ بِاسْمِکَ اَمُوْتُ وَاَحْیٰی ۝** (بخاری، مسلم بحواله بالا)

(۱۱) دبیدیدو ترمخه دی دري واره دغه استغفار هم ووائی

**اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّاهُوَالْحَیُّ الْقَیُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ ۝**

(ترمذی ص۱۷۷ جلد۲)

(۱۲) که چیری په خوب کی یو دبیری خبره ووینې او سترګی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



دی خلاصی سی نو دې واره چپه خواته توکه او **اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ** دې واره ووایه او پر بل اړخ بیده سه.

(مسلم کتاب الرؤیا ص ۲٤۱ ج۲)

## دمعاشرت څو سنتونه

(۱) سلام کول دمسلمانانو دپاره ډیر لوی سنت دی. رسول اللّٰهﷺ ددې ډیر تاکید فرمایلی دی، ددې څخه یو دبله محبت ډیریږی. هرمسلمان ته باید سلام وسی که ئې پیژنی او که ئې نه پیژنی، ځکه چی سلام اسلامی حق دی چی دچا پر پیژندنی یا شناخت باندی موقوف نه دی. (بخاری ص۹۲۱ ج۲)

(۲) دبخاری او د مسلم په حدیث کی دی چی رسول اللّٰهﷺ دکوچنیانو سره تیر سو نو رسول اللّٰهﷺ هغوته سلام وکی پدې خاطر کوچنیانوته هم سلام کول سنت دی.

(بخاری ص۹۲۱ ج۲، مسلم ص ۲۱٤ ج۲)

(۳) دسلام کولو سنت طریقه داده چی په ژبه سره **اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ** ووائی په لاس یا په سر سره یا دګوتی په اشاره سره سلام کول یا دهغه جواب ورکول دسنت خلاف دی، که لیری والی وی نو په ژبه او لاس دواړو سره دی سلام وکی.

(مشکوٰة ص۳۹۹ ج۲، ترمذی ص۹۹ ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


۴ که دیومسلمان ورور سره ملاقات وسی نو دسلام وروسته دلاس روغبړ کول سنت دی. ښځه دښځی سره دلاس روغبړ کولای سی.(مشکوٰة ص۴۰۱ ج۲)

۵ که یومجلس ته ورسې نوچیری چې موقع پیدا سی اوځای در ورسیږی کښینه نور ولاړول خپله کښینستل دګناه خبره او مکروه ده. (بخاری ص۹۲۷ ج۲، مسلم ص۲۱۷ ج۲)

۶ که یوڅوك ستا دلیدو دپاره راسی نوته دخپل ځای څخه لږ وښوره،که څه هم په مجلس کی ځای وی، دا هم سنت دی او په دی کی دهغه راتلونکی دپاره اکرام دی.

(زادالطالبین ص۵۶، شعب الایمان ص۴۶۸ ج۲)

۷ که یوځای صرف دړې کسان وی نو یو پریښول او دبل سره په غوږ کی دخبری کولو اجازه نسته چی ناحقه په ناحقه به دهغه زړه دشك په سبب رنجیده سی او مسلمان ورو رنجیده کول ډیره لوګناه ده. (مسلم ص۲۱۹ ج۲)

۸ که دیوچا کورته ورتلل وی نو دهغه څخه د اجازه اخستلو وروسته باید داخل سی. (مشکوٰة ص۴۰۱ ج۲)

۹ که اړیمی راسی نو سنت دا دی چی دهغه د راګرزولو تروسه کوښښ وکی اوکه خوله دکوښښ باوجود بنده ونه ساتی نو دچپه لاس شا دی پر خوله کښیږدی او دهاها آواز دی نه راکاږی چی دا په حدیث کی منع دی. (بخاری ص۹۱۹ ج۲، مسلم)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


(۱۰) که دیو چا ښه نوم واوري نو هغه دخپل مقصد دپاره نیك فال سنجول سنت دی اوپه هغه خوشحاله کیدل هم سنت دی. دبدفال اخیستل سخت منع سوی دی لکه په لار کی یو سړی ته تریچی(پرنچل) راغلی نو دا سنجول چی کار به نه کیږی یا که کارکه ږغ وکی ،یا ئې بیزو ولیدل یا بم ږغ وکی نو ددې څخه د آفت دراتللو ګمان کول سخته نادانی او بلکل بې اصل او غلطه او دګمراهی عقیده ده همدا رنګه یو څوك ناسی بلل یا یوه ورځ ناسی بلل ډیره بده ده. (مرقاةص۲۰۶ج۹)

پرسنت باندی په عمل کولو سره بنده دالله تعالی محبوب ګرځی نو ځکه په اهتمام سره باید پردې عمل وسی.

## دوسوسو پروخت سنتونه

☆ دکفر یا دګناه دوسوسې پروخت دا ویل سنت دی **اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ** دی ووایی او **اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ**o (مرقاةص۱۳۷ج۱)

## سنت فکر

☆ دوهم سنت دادی چی دالله تعالی په ذات کی دی فکرنه کوی، بلکه دالله تعالی په مخلوقاتو کی دی فکرکوی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



**كَمَافِي الْحَدِيْثِ: تَفَكَّرُوْا فِي خَلْقِ اللّٰهِ وَلَا تَتَفَكَّرُوْا فِي اللّٰهِ فَإِنَّكُمْ لَمْ تَقْدِرُوْا قَدْرَهٗ**ه

(الكامل لابن عدی ص۳۸۵ج۸، الجامع الصغیرص۶۹۰ج۲، مجمع الزوائد ص۲۵٤ج۱، طبرانی اوسط ص۳۸۳ ج ٤)

☆ دفکر تعلق دخلق سره دی، دخالق سره نه **كَمَاقَالَ تَعَالٰى شَانُهٗ وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ**ه (بیان القرآن ص۲۵۷ج۱)

## یوځوموهم دینی تعلیمات

(۱) چاچی ویل ومنل درسول اللّٰه ﷺ هغه ویل ومنل داللّٰه تعالٰی.

(سورة نمبر٤ آیت نمبر۸۰)

(۲) هغه کس زمونږ دجماعت څخه وتلی دی څوك چی زمونږ پرکشرانو باندی رحم نه کوی او زمونږ دمشرانو عزت نه کوی او دنیك کار دکولو نصیحت نه کوی او دبدکار څخه منع نه کوی. (ترمذی ص۱٤ج۲)

(۳) هغه کس ملعون دی څوك چی یو مسلمان ورور ته مالی یا جانی تاوان رسوی یا ئې خطاباسی. (ترمذی ص۱۵ج۲)

(۴) په دنیا کی داسی اوسه لکه مسافر چی اوسی.(بخاری ص۹٤۹ج ۲)

(۵) مسلمان هغه دی چی دژبی او لاس څخه ئې نور مسلمانان محفوظ وی. (بخاری ص۹٦۰ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



(٦) دمور او پلار د زهیرولو(آزرده کولو) وبال په دنیا کی هم را ځی.
(مشکوٰة ص ٤٢١ ج٢)

(٧) غنیمت ئې وبوله پنځه شیان دپنځه شیانو تر راتګ دمخه

☆ ځوانی دسپن ږیر توب ترمخه. ☆ صحت دناجوړی ترمخه.
☆ مالداری دغریبی ترمخه. ☆ فراغت دمشغولی ترمخه.
☆ ژوند دمرګ ترمخه. (المستدرك ص٣٤ج٤، شرح السنة ص٢٧٦،٢٧٧ج٧)

## د استخارې لمونځ

دحضرت جابررضی اللہ عنہ څخه روایت دی چی رسول اللّٰه ﷺ مور ته په (ضروری) کارو کی داسی د استخارې ښوونه کوله لکه څنګه چی دقرآن شریف سورتونه ئې رایادوله او فرمایل به ئې چی کله په تاسی کی یوڅوك دیو ضروری کار نیت وکی نو دوه رکعته نفل دی وکی بیا دی دا دعا وکی کومه چی مخته راځی.(بخاری ص٩٤٤ ج٢)

او حضرت انس رضی اللہ عنہ ته ئې وفرمایل چی ای انس! کله چی یو کار تا په شك کی واچوی نو دخپل رب څخه استخاره وکه او اووه واره استخاره وکه، بیا چی په زړه کی دی کومه خبره غالبه سی په هغه کی خیر وبوله. (شامی ص ٥٠٧ ج١)

**فائده:** دخوب لیدل یا یو آواز اوریدل ضروری نه دی. همدا راز په بل چا استخاره کول ثابته نه ده، دبل چا څخه مشوره (صلاح)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


اخیستل سنت ده.حدیث شریف دی چی څوك په مشوره (صلاح) سره کار کوی، پښیمانه کیږی نه او څوك چی په استخاره کولو سره کار کوی هغه نامراده کیږی نه. که د استخاري دلمانځه کولو وخت نه وی او ژر په یوکار کی استخاره کول وی نو فقط د استخاري دعا کافی ده اوکه دا دعا د استخاري ئې په یاد نه وی نودا لنډه دعا دی وکړی

اَللّٰهُمَّ خِرْلِیْ وَاخْتَرْلِی ٥ (شامی ص٤٧٠،٤٧١ج٢)

## د استخاري دعا

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِیْرُکَ بِعِلْمِکَ وَاَسْتَقْدِرُکَ بِقُدْرَتِکَ وَاَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ الْعَظِیْمِ فَاِنَّکَ تَقْدِرُ وَلَآ اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَآ اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوبِ. اَللّٰهُمَّ اِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ(پردغه ځای دی دخپل مطلب خیال وکی)خَیْرٌ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ فَاقْدِرْهُ لِیْ وَیَسِّرْهُ لِیْ ثُمَّ بَارِکْ لِیْ فِیْهِ وَاِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ (پردی ځای دی دخپل مطلب خیال وکی) شَرٌّلِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ فَاصْرِفْهُ عَنِّیْ وَاصْرِفْنِیْ عَنْهُ وَاقْدِرْلِیَ الْخَیْرَ حَیْثُ کَانَ ثُمَّ اَرْضِنِیْ بِهٖ ٥

(بخاری ص٩٤٤ج٢، ترمذی١٠٩ ج١، حصن حصین ص٢٦٣)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


**ترجمه:** اې اللّٰه! زه ستا څخه خیر طلب کوم ستا دعلم په واسطه سره او قدرت درڅخه غواړم ستا دقدرت په مرسته سره او ستا څخه سوال کوم ستا دفضل. بس بې شکه ته قدرت لرونکی یې او زه عاجز او کمزوره یم اوته پوهیږم، زه نه پوهیږم اوته پټې خبرې ښې پیژنې. اې اللّٰه! که دا کار چې ستا په علم کې دی زما دپاره زما ددین، معاش او آخرت دپاره خیر دی نو دا زما دپاره مقدر وګرځوې او آسانه ئې کړې او بیا په دغه کې زما دپاره برکت کښیږدې او که ستا په علم کې په دی کې شردی زما ددین او معاش او د آخرت دپاره نو دغه زما څخه لیری که اوما ددغه څخه لیری که او چیری چې خیر وی هغه زما دپاره مقدر که اوما پرهغه باندی راضی که.

ددې دعا وروسته په زړه کې چې کوم خیال غالب سی په هغه کې دی خیر وبولی.

## دحاجت لمونځ

دحضرت عبداللّٰه بن ابی اوفیٰ رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول اللّٰه ﷺ ارشاد وفرمایلی که چا ته داللّٰه تعالیٰ څخه یو ضرورت پیښ سی یا دیو بنده څخه حاجت وی نو اودس دی وکی او په ښه طریقه دی اودس وکی بیا دی دوه رکعته لمونځ وکی بیادی داللّٰه تعالیٰ ثناء وکی او درورد شریف دی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ووائی بیادی دا دعا ووائی

**لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ. اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ. اَللّٰهُمَّ اِنِّيْٓ اَسْئَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَآئِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَّالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ اِثْمٍ لَّا تَدَعْ لِيْ ذَنْبًا اِلَّا غَفَرْتَهٗ وَلَا هَمًّا اِلَّا فَرَّجْتَهٗ وَلَاحَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا اِلَّاقَضَيْتَهَا يَآاَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.**

(ترمذی ص۱۰۸،۱۰۹ج۱، ابنِ ماجه ص۹۸،۹۹، حاکم ص۳۲ج۱، شامی ص۴۷۳ج۲)

**ترجمه:** نسته څوك معبود ماسوا دالله تعالیٰ چی حلیم او کریم دی (**اَلْحَلِيْمُ الَّذِيْ لَايُعَجِّلُ بِالْعُقُوْبَةِ. اَلْكَرِيْمُ الَّذِيْ يُعْطِيْ بِدُوْنِ اِسْتِحْقَاقٍ وَّمِنَّةٍ** o حلیم هغه ذات دی چی په سزا ورکولو کی تلوار نه کوی او کریم هغه ذات دی چی بیله استحقاق او بیله قابلیت ئې عطاء کوی) پاك دی الله چی دعرش عظیم رب دی هر قسم تعریف دالله ربّ العالمین دپاره خاص دی.

اې الله! زه سوال کوم ستا درحمت دموجباتو اوستا دمغفرت د ارادو اودهری نیکی دمالِ غنیمت او دهری بدی څخه دسلامتی، زموږ هیڅ ګناه مه پریږده مګر وئې بخښنه او نه زموږ یوغم راوساتی مګر هغه لیری کې او زموږ هر حاجت چی ته په راضی یی هغه راپوره کړه اې ارحمُ الرّاحمین.

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


دهر دعا ترمخه او وروسته درود شریف ویل ددعا دقبولیت ډیره قوی واسطه ده.علامه شامی رحمة اللّٰه علیه فرمائی چی علامه ابواسحاق الشاطبی رحمة اللّٰه علیه وفرمایل

**اَلصَّلٰوةُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مُجَابَةٌ عَلَی الْقَطْعِ ٥**

یعنی درود شریف حق تعالٰی قبول کړی او دکریم څخه دا ناممکنه ده چی یو څه دعا قبوله کړی او یوڅه ناقبوله کړی.

**فَاِنَّ الْکَرِیْمَ لَا یَسْتَجِیْبُ بَعْضَ الدُّعَاءِ وَیَرُدُّ بَعْضَهٗ ٥**

او علامه ابو سلیمان دارانی رحمة اللّٰه علیه فرمائی چی تر دعا دمخه او وروسته درودشریف ویونکې دعا قبول سی ځکه چی حق تعالٰی صرف دمخ او وروسته دعاء درود قبول کړی او دمینځ دعا ناقبوله کړی دا دهغه دکرم څخه ناممکنه ده.

**فَاِنَّ اللّٰهَ یَقْبَلُ الصَّلٰوتَیْنِ وَهُوَ اَکْرَمُ مِنْ اَنْ یَّدَعَ مَا بَیْنَهُمَا٥**

(شامی ص۲۳۳ج۲)

احقرعرض کوی کله چی یوتکلیف ددنیا یا دآخرت راسی، دبدن مصیبت وی یا که روحانی مصیبت یعنی دګناه تقاضاوی موپه تکلیف کړی، دوه رکعته دحاجت لمونځ په ویلو سره لوړ لکل سوی دعا دی ووائې په وار وار هره ورځ دی دزړه څخه دعا

Courtesy www.pdfbooksfree.pk


وکی دغیب څخه به دکامیابی اسباب پیدا سی. دهر چا چی زړه غواړی دخپل رب څخه دی دنصرت او کرم انعام حاصل کړی.

## ځینی عادتونه او خصائل دنبوی ﷺ او مُتفرق سنتونه

① **سنت:** کله چی به رسول اللّٰه ﷺ روان ؤو نو خلګ به دمخ څخه نه ایسته کول کیدل.(زادالمعاد ص۱۱۸ج۱)

② **سنت:** رسول اللّٰه ﷺ جائز (روا) کار نه منع کوی. که به یو چا سوال(حاجت) وکی او دهغه دپوره کیدو اراده به ئې وه نو وو به ئې ورته وویل که نې چپ به سو. (زادالمعاد ص۱۱۸ج۱)

③ **سنت:** رسول اللّٰه ﷺ خپل مخ دهیڅ چا څخه نه اړوی ترڅو چی هغه نه وای اړولی اوکله چی به یوچا پټه خبره کول غوښتل نوعلیه السلام به غوږ دهغه وخواته کی او ترڅو چی به هغه فارغه نه سو نوعلیه السلام به غوږ نه ایسته کوی.

(زادالمعاد ص۱۱۸ج۱)

④ **سنت:** کله چی به رسول اللّٰه ﷺ یوڅوک رخصتوی نو دا دعا به ئې کول

اَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِیْنَکُمْ وَاَمَانَتَکُمْ وَخَوَاتِیْمَ اَعْمَالِکُمْ ۝

(ترمذی ص۱۸۲ج۲)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



⑤ سنت: کله چی به رسول اللّٰهﷺ یو دخوښی شی ولیدی نو به ئې فرمایل اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ بِنِعْمَتِهٖ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ ٥ او کله چی به ناوړه حال پیښ سو نو به ئې وفرمایل

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰی کُلِّ حَالٍ.

(المستدرك ص٦٧٨ ج ١، ابنِ ماجه ص٢٧٨)

⑥ سنت: کله چی به ئې یوځوك ولیدی نوترمخه به رسول اللّٰهﷺ سلام ورته کوی. (شمائل ترمذی صفحه١٢)

⑦ سنت: کله چی به ئې یوشی ته تر اړخ دخوا کتل نو پوره مخ به ئې په وراړولوسره ورته کتل، دمُتکبّرینو په رقم دسترګو ترکونجیانو به ئې نه ورته کتل. (خصائل شرح شمائل ص١٢)

⑧ سنت: نظر به ئې کښته ساتی، د ډیری حیا په خاطر به ئې په ډکو سترګو نه کتله. (خصائل ص١٢)

⑨ سنت: سختی به ئې نه کوله، نرمی به ئې خوښوله، علیه السلام ډیرنرم طبیعته حلیمُ الطَّبع(برداشت کونکی) او زړه سوانده وو.(مشکوٰة ص٥١٢ ج٢)

⑩ سنت: رسول اللّٰهﷺ چی به دتګ په وخت کښی پښه پورته کول نو قدم بې دقوت څخه شخ وه او قدم به ئې داسی ایښووی چی لږ به دمخ پرخوا کښته سوپه تواضع سره به ئې قدم مخته په اخستلوسره تګ کاوه لکه دلوړی څخه چی

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کښتی ته تاکیدی.(خصائل ص۱۲،۷۳)

(۱۱) سنت: په ټولو کی به ګډ اوسیدی (یعنی په شان جوړولو سره به نه اوسیدی) بلکه کله کله به ئې مزاح(خوش طبعی) هم کوله. (بهشتی زیور حصّه۸صفحه٤)

(۱۲) سنت: که به یوغریب راغلی یا به سپین سری د رسول اللّٰه ﷺ سره خبره کول غوښته نو رسول اللّٰه ﷺ به دسړك پر یوه غاړه د اوریدو دپاره کښینستی.(بهشتی زیور حصّه ۸ ص٤)

(۱۳) سنت: په لمانځه کی چی به ئې دقرآن مجید تلاوت کوی نودسینې مبارکی څخه به ئې د دیګ د ایشیدو په رقم ږغ راتلی، دخدای دیږی په خاطر به ئې داسی حال ؤو. (شمائل ص۱۸۸)

(۱۴) سنت: دکورواالاؤ ډیرخیال ئې ساتی چی چا ته دده علیه السلام څخه تکلیف ونه رسیږی ، پدې خاطرچی به دشپې دباندی وتی نو به په کراره ولاړسو، په کراره به ئې څپلکی په پښوکړې، په کراره به ئې دروازه خلاصه کړه، په کراره به دباندی ووتی همدارنګه کورته چی به راتلی نوبه په کراره راتلی چی بیدو کسانو ته تکلیف ونه رسیږی او دچا خوب خراب نسی.

(مشکوٰة صفحه ۲۸۰، بهشتی زیور حصّه ۸صفحه ٤)

(۱۵) سنت: کله چی به روان ؤو نو نظر به ئې کښته دمځکی وخواته ساتی، دخلګو سره چی به روان ؤو نو دټولو ترشا به

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



ؤو اوکه به څوك په مخه ورغلی نو دټولو ترمخه به سلام رسول اللهﷺ ورته کوی. (شمائل ترمذی صفحه۱۲)

⑯ سنت: دیو قوم عزت داره سړی وی نو دهغه عزت کول.(شمائل ص۲)

⑰ سنت: دخپل وخت څخه یوڅه وخت دالله تعالی دعبادت دپاره، یوڅه دکوروالاؤ دحقوق د ادا کولو دپاره لکه دهغو سره خندا خبری او یوه حصه دخپل بدن د آرام دپاره راایستل.

(شمائل ترمذی صفحه۱۹۸)

⑱ سنت: پر رسول اللهﷺ باندی درود شریف ویل.

( نشرالطیب صفحه۱۷۰)

⑲ سنت: د همسایه سره احسان کول، دمشرانو عزت کول او پر کشرانو باندی رحم کول.

(مشکوٰة جلد۲ صفحه ٤٢٤ صفحه٤٢٣)

⑳ سنت: که یو خپل بدسلوك وکی نو دهغه سره ښه سلوك کول. (مشکوٰة صفحه۵۱۹)

㉑ سنت: کوم خلګ چی په دنیاوی لحاظ کمزوره دی دهغو خیال ساتل. (مشکوٰة ص۵۱۹ج۲)

㉒ سنت: راسته یا چپه اړخ ته بالښ ایښول.

(شمائل ترمذی مع خصائل نبوی صفحه۷٦، زادالمعادص ۱۲۰ج۱)

㉓ سنت: دماینې زړه دخوشاله کیدو دپاره دهغې سره مزاح (خوش‌طبعی)

Courtesy www.pdfbooksfree.pk



کول او دخندا خبری کول هم سنت دی.(خصائل شرح شمائل ص ۱۹۸)

(۲۴) سنت: دسهار د لمانځه وروسته تر اشراقه پوری رسول اللهﷺ په مسجد کی به چارزانو کښینستی همدارنګه په خپلو اصحابو کی به هم رسول اللهﷺ چارزانو کښینستی.

( خمائل شرح شمائل صفحه۷٦)

هوکشرانو ته دمشرانو په مخکی دوزانو (پرکونډو) کښینستل اَقْرَبُ اِلَی التَّوَاضُعِ(تواضع ته نژدې) لیکل سوی دی.

(شامی جلدنمبر۱)

(۲۵) سنت: دخپل مسلمان ورور سره په خندا لیدل.

(ترمذی ج۲ص ۱۸)

(۲۶) سنت: پر سواری باندی دهغه مالك ته مخته دناستی دپاره ویل او دهغه بیله اجازې مخته نه کښینستل سنت دی.

(مشکوٰة ص ۳٤۰ج۲)

اَنْتَ اَحَقُّ بِصَدْرِ دَابَّتِکَ الخ

☆ ☆ ☆

تَمَّتْ بِالْخَیْرِ

رَبَّنَاتَقَبَّلْ مِنَّآ اِنَّکَ اَنْتَ السَّمِیْعُ
الْعَلِیْمُ وَتُبْ عَلَیْنَآاِنَّکَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ط